# شریعت

په اوونۍ کې دوه ځله خپرېږي

د افغانستان اسلامي امارت مرکزي نشراتي ارګان

د تأسیس کال ۱۳۷٤ هـ.ش/ دوهم پړاو / ۱۵۹ ګڼه / یکشنبه ۲۵ رمضان‌المبارک ۱٤٤٤ هـ.ق / ۲۷ حمل ۱٤۰۲ هـ.ش / ۱٦ اپریل ۲۰۲۳ میلادي


د چین د بهرنیو چارو وزیر:

## امریکا دې د افغانستان کنګل شوې پیسې بېرته ورکړي

د چین د بهرنیو چارو وزیر وایي چې امریکا په افغانستان کې، په سیاسي او نظامي توګه ماتې خوړلې او د ترهګرۍ په نوم مبارزې سره ترهګري نوره هم زیاته شوه. نوموړي دا څرګندونې ورمه ورځ د ازبکستان په سمرقند ښار کې د افغانستان په تړاو د سیمې د هېواد د بهرنیو چارو وزیرانو تر غونډې وروسته په یوه خبري کنفرانس کې کړې دي. هغه پر امریکا سختې نیوکې وکړې او غوښتنه یې وکړه چې امریکا باید په افغانستان کې له خپلو ناکامیو څخه عبرت واخلي. دا په داسې حال کې ده چې سپینې ماڼۍ څو ورځې مخکې له افغانستان څخه د په بیړه وتلو پړه پر پخواني ولسمشر ډونالډ ټرمپ واچوله او دا یې استخباراتي ماتې وګڼله. د هغه په وینا، امریکا په افغانستان کې سیاسي ماتې هم وخوړله، دوی په افغانستان کې دیموکراسي تحمیل کړه او دا یوه ناکامه هڅه وه چې له امله یې ملي پخلاینه هم رامنځته نه شوه. د چین د بهرنیو چارو وزیر وویل، چې امریکا دې د افغانانو پر کړاوو او ستونزو سترګې نه پټوي او د افغانستان کنګل شوې پیسې دې ژر تر ژره بېرته ورکړي.

## افغانستان د وسپنې پټلۍ له لارې د سیمې له هېوادونو سره وصلېږي



شریعت: د بهرنیو چارو وزارت سرپرست مولوي امیر خان متقي او د قزاقستان جمهوریت د لومړي وزیر مرستیال او د سوداګرۍ او همګرایۍ له وزیر سریک ژومانګارین سره په کابل کې وکتل. په سر کې د بهرنیو چارو وزارت سرپرست مولوي امیرخان متقي د لومړي وزیر مرستیال او د سوداګرۍ وزیر ته د هرکلي ترڅنګ له افغانستان سره د سوداګرۍ او بشري مرستو په برخو کې له مرستو مننه وکړه او ویې ویل، چې د دې ترڅنګ چې قزاقستان د تجارت او ټرانزیټ په برخه کې له افغانستان څخه ګټه پورته کولای... ۵مخ

## یو خصوصي شرکت له ګازو څخه د برېښنا په تولید کې پانګونه کوي

شریعت: د اوبو او انرژي وزارت د انرژي معین ملا عبدالقاهر ادریس پرون په خپل کاري دفتر کې د افغان وینډ جنریشن پاور تولیدي شرکت له مسؤلینو سره وکتل. په دغه کتنه کې د ګازو له سرچینو څخه د برېښنا د تولید او په یاده برخه کې د پانګوالو د جلبولو په هکله بحث او خبري اترې وشوې. په لیدنه کې همدارنګه د یاد شرکت مسؤلینو په هېواد کې د ګازو له سرچینو څخه په ګټې اخیستنې سره د برېښنا د تولید په برخه کې د پانګونې لیوالتیا څرګنده کړه. د اوبو او انرژي وزارت د انرژي معین د یاد شرکت له مسوولینو سره د همکارۍ ژمنه وکړه او برېښنا ته د افغانستان د خلکو د اړتیا یادولو ترڅنګ یې په هېواد کې د برېښنا د تولید د چټکتیا غوښتنه وکړه.

## سویس کې د افغانستان شتمنۍ ۱۰۰ میلیونه ډالره ګټه کړې



په سویس کې د افغانستان د شتمنیو د یوې برخې د ساتنې د صندوق غړی شاه محمد محرابي وایي، د دغه صندوق پیسو په تېرو اتو میاشتو کې څه باندې ۱۰۰ میلیونه ډالره ګټه کړې ده. د محرابي په وینا، دغه ګټه کولی شي د افغانۍ د ارزښت د ثبات لپاره ګټوره تمامه شي. د افغانستان د شتمنیو د یوې برخې د ساتنې صندوق غړی وایي، دغه صندوق په افغانستان کې د نغدو پیسو له امله رامنځته ... ۵مخ

## ٦ تنه د یوه ماشوم د تښتولو او وژنې په تور ونیول شول

شریعت: د استخباراتو لوی ریاست په پلازمېنه کابل کې، ٦ تنه د یوه ماشوم د تښتونې او وژلو په تور ونیول. د یاد ریاست په ټویټر پاڼه راغلي، چې ځانکړو ځواکونو یې د دقیقو او پېچلیو عملیاتو په ترڅ کې د انسان تښتوونکو هغه ٦ کسیزه ډله ونیوله، چې د سید حبیب شاه زوی سید اکرام یې د کابل ښار د ۹مې امنیتي حوزې اړند د خپل کور له مخې تښتولی وو.

د خبرپاڼې د مالوماتو له مخې انسان تښتوونکو د یاد ماشوم له کورنۍ څخه د پیسو غوښتنه کړې وه او وروسته یې تښتول شوی ماشوم په ډېره بې رحمۍ سره وژلی وو.

د ملي پراختیا شرکت مسؤلین:

## د هغو ٦۰۰ پروژو برخلیک دې معلوم شي چې کارونه یې په ټپه ولاړ دي

د ملي پراختیا شرکت مسئولین وایي چې په هېواد کې د هغو ٦۰۰ پروژو برخلیک دې معلوم شي چې کارونه یې په ټپه ولاړ دي. په هغې غونډه چې پرون د حکومت د اطلاعاتو او رسنیو په مرکز کې جوړه شوې وه؛ د ملي پراختیا شرکت مسؤلینو، د دغه شرکت د ۱٤۰۱ مالي کال مهم فعالیتونه، لاسته راوړنې او د روان کال پلانونه له رسنیو سره شریک کړل.



د غونډې په پیل کې د ملي پراختیا شرکت مالي او اداري مرستیال مولوي عبدالولي عادل، د دغه شرکت د مهمو فعالیتونو په اړه معلومات ورکړل او ویې ویل چې ملي پراختیا شرکت په ۱٤۰۱ مالي کال کې په ټول ... ۵مخ

## په لومړي ځل ۳ ټانکره بې کیفیته هایدرولیک بېرته ایران ته مسترد شول

شریعت: د سټنډرډ ملي ادارې په لومړي ځل ایران هېواد ته د ۳ ټانکره هایدرولیکو د بېرته مسترد کولو خبر ورکړی دی.

یادې ادارې پرون د یوې خبرپاڼې په خپرولو سره وویل، چې (د سټنډرډ ملي ادارې له لوري په یو بې ساري اقدام کې د لومړي ځل لپاره د هایدرولیک (۳) ټانکره چې له ایران څخه وارد شوي و او بې کیفیته ثابت شول، بېرته وګرځول شول).

د یادونې وړ ده، چې په وروستیو څو کلونو کې دا لومړی ځل دی، چې بې کیفیته هایدرولیک بېرته ایران ته مسترد کېږي.

| | | |
|---|---|---|
| د روږي حکمتونه ص۲ | تبین اهداف تشکیل خانواده ۳ مخ | د مولوي عبدالغفار بریالي د شاعرۍ سبک ٤ مخ |

### سرمقاله

## د سمرقند غونډه او د ټام ویسټ منډې ترړې!

له افغانستانه د امریکې او ناټو یرغلګرو ځواکونو تر شړل کېدو وروسته ټول لوېدیځوال تر ډېره بریده له سخت روحي فشار سره مخ دي. ځکه نړۍ ولیدل چې دلته د هغوی شل کلنې خوارۍ ګرد سره عبث ولاړې، د ناکامۍ پېغور یې واورېد او پخوانی حیثیت او هیبت یې کاملاً له منځه ولاړ. همدا لامل دی چې دوی ناکراره دي او په ختیځ کې هر تحرک او هر مجلس د ځان لپاره یو بل خطر ګڼي. اوس چې د روس، چین، مرکزي اسیا، ایران او داسې نورو سیمه ییزو هېوادونو تر منځ کله ناکله خپلمنځي مشورې کېږي، نو امریکایان خامخا دلته کوم جنجال او تشویشي غږ پورته کوي او خلکو ته دا اندېښنه وراچوي چې ګوریځ لا هم د اقتصادي فعالیتونو د پرمختګ وخت نه دی راغلی، بلکې دا هغې ستونزې دي چې هوارول غواړي. د مثال په ډول تېره اوونۍ چې په سمرقند کې د افغانستان په اړه له یوې مشورتي غونډې خبر خپور شو، د افغانستان لپاره د امریکې ځانګړي استازي سمدستي را وخوځېد او څرګنده یې کړه چې د افغان ستونزې د حل موندلو په خاطر به د قطر، عربي اماراتو او ترکیې مشرانو او هلته مېشتو ځینو پخوانیو افغان چارواکو سره لیده کاته ولري. لکه چې ویسټ د سمرقند غونډې له پای ته رسېدو وروسته هم دا دی لګیا دی خپلې منډې ترسره کوي. ښایي په همدې توګه یې په درې څلورو ورځو کې ټول سفرونه پای ته ورسېږي او بېرته خپل هېواد ته ستون شي. خو دا چې د ویسټ د اوسني سفر اصلي موخه څه وه او څه یې ... ۵مخ

## لغمان کې لسګونه روغتیایي مرکزونه جوړ شوي دي

د لغمان د عامې روغتیا ریاست مسوولین وایي، چې د اسلامي امارت له بریا وروسته د دغه ولایت په بېلابېلو برخو کې ۳٦ روغتیایي مرکزونه جوړ شوي دي.

د دغه ولایت د عامې روغتیا ریاست مرستیال ډاکټر محمد آصف صافي وایي، چې د اسلامي امارت له بریا وروسته په دغه ولایت کې روغتیایي برخې ته پاملرنه زیاته شوې ده.

صافي زیاته کړه، چې په دغه موده کې په بېلابېلو سیمو کې د روغتیایي مرکزونو شمېر له ۷۸ څخه ۱۱٤ ته لوړ شوی، چې په ثابت او ګرځنده شکل خلکو ته روغتیایي خدمتونه ترسره کوي.

د نوموړي په وینا، په ولایتي ... ۵مخ

## له چابهار بندر څخه افغانستان ته د غنمو پر لېږد ټینګار



هند، ایران او د منځنۍ اسیا هېوادونو د چابهار بندر له لارې افغانستان ته د غنمو پر لېږلو ټینګار کړی دی.

په ممبۍ ښار کې پرون د هند او مرکزي اسیا د کاري ډلې جوړې شوې لومړۍ غونډه کې د چابهار بندر له لارې د سیمه ییزو اړیکو د پراخولو او ټینګولو غوښتنه هم شوې ده. د ... ۵مخ

## شیخ حمدالله نعماني د رهبرۍ د فرامانونو او احکامو د تطبیق برخه کې اړوندو ادارو ته ډاډ ورکړ

شریعت: د کور او ښار جوړولو وزارت سرپرست شیخ حمدالله نعماني په خپل کاري دفتر کې د عالیقدر امیر المؤمنین حفظه الله د فرامینو او احکامو د ښار او کتنې لوی ریاست له مسؤلینو سره وکتل او په یو شمېر موضوعاتو یې خبرې اترې وکړې. په دغه لیدنه کې د عالیقدر امیرالمؤمنین حفظه الله د لارښوونو، احکامو او فرامینو د پلي کېدو پر څرنګوالي بحث وشو. د کور او ښار جوړولو وزارت سرپرست شیخ حمدالله نعماني راغلو مسؤلینو ته ډاډ ورکړ، چې د وزارت ټول کار کوونکي یې د عالیقدر امیرالمؤمنین حفظه الله سپارښتنې، فرامین، احکام او نورې لارښوونې له ځنډ پرته په سمه توګه عملي کوي. نوموړي زیاته کړه، چې له دې وروسته به هم د ټولو اړوندو کسانو او مسؤلینو سره په ګډه هڅه کوي، چې په یاده برخه کې لا ښه او پر وخت اقدامات ترسره کړي.

## په کابل کې د ۵ فرعي سړکونو د جوړولو چارې پیل شوې

کابل ښاروالۍ په دغه ښار کې د ۵ فرعي سړکونو جوړولو د چارو خبر ورکړی دی.

سرچینې د یوې خبرپاڼې په خپرولو سره ویلي، چې د ۵مې ناحیې د ۳۷ ګذر اړوند د آغا صاحب جومات سیمه کې د ۵ فرعي سړکونو د جوړولو چارې، د کابل ښاروالۍ له خوا او د ملګرو ملتونو د پروژوي دفتر (UNOPS) په مالي مرسته پیل شوې.

خبرپانه کې زیاته شوې، چې د ۵مې ناحیې رئیس مولوي ابوبکر د یادې پروژې د پیل په مراسمو کې وویل چې په دې سیمه کې د سړک غاړې لښتیو په ګډون، په ... ۵مخ

# د روژې حکمتونه

**ژباړه: مولوي نورالحق مظهري**

په اسلام کې د هر عبادت لپاره حکمتونه شته چې ځینې یې په صریح نص معلومېږي ځینې یې په عقل معلومېږي او ځینې یې پټ وي خو وروسته تر ډېرو تحقیقاتو او پلټنو یې یو څه درک لګیږي.

په ټولو عباداتو کې مهم حکمتونه دا دي: د نفسونو تزکیه، د نیمګړتیاوو څخه د نفسونو پاکوالی، له چټلیو څخه د نفسونو صفاوالی، د انساني کمال لپاره د نفسونو جوړوالی، ملأ اعلی ته د نفسونو نږدې والی، د حیواني خلقتي کثافت او دروندوالي څخه د انساني نفسونو را ایستل او په اسماني پاکو معنویاتو تغذیه کول.
اسلام انسان ته د داسې منځني مخلوق په سترګه ګوري چې هم د ملکوتي صفایی او هم د حیواني چټلی استعداد لري، هم د مځکېني تاریکی او هم د آسماني نورانیت وړتیا لري او انسان ته عقل، اراده او تمیز ددې لپاره ورکول شوي دي چې د دنیوي او روان اخروي ژوند لپاره په فکر کولو سره یا ځان نیکمرغه کړي او یا یې بدمرغه.

خو په اسلام کې هر هغه عبادت لره چې سم وشي په انساني نفسونو کې مختلف آثار شته چې د عابدینو د رښتینولی، فکرونو راټولوالي او د خپل معبود د استحضار له مخې پر ګڼو حالاتو او اقسامو باندې مشتمل دي.
دا معلومه خبره ده هغه عبادت چې په سمه طریقه وشي، پوره یې حق آداء شي او په کولو یې تنها الله او د هغه رضا مدنظر وي د انسان نفس د هري تاریکی څخه و رڼا ته او د هر هلاکت څخه ونجات ته را باسي، همدا راز انسان ته داسې روحي او معنوي قوت ورکوي چې په مټ یې ددنیا او آخرت سعادت او نیمکرغي لاس ته را وړلای شي.
هغه عبادات چې سم او پر طریقه آداء نسي د انسان پر بدن هیڅ مثبت تأثیر نه ږدي تنها د انسان لپاره به جسمي مصروفیت او روحي ستړیا د ځانه سره ولري نور به هیڅه ګټه ورته ونکړي او هېڅکله به دی پر خپل عبادت خوند وانخلي ځکه چې د زړه د تله او د الله لپاره نه کېږي بلکې د مجبوریت پر اساس او د بل هدف لپاره کېږي.
که دقت وکړو او په غور وګورو نو دا خبره به له ورایه راته معلومه شي چې:
د مسلمانانو د زړونو کلکوالی، په الهي مسئولیتونو کې ناغېړي او د دښمن په مقابل کې ناکامي له دې امله ده چې مسلمانانو د خپل دین د لارښوونو څخه فاصله نیولې، د اعمالو او ویناوو د مثبت تأثیر څخه محروم شوي او د دین شعایر ورته کم رنګه شوي دي چې په نتیجه کې عبادات اوس لکه عادات ګرځېدلي او د یو فرهنګ له مخې یې سرته رسوي نوره دیني تلوسه او عقلي شوق ورسره نشته.
که پر مسلمانانو د دوی نیکو اعمالو مثبت تأثیر کولای نو یقینا به د مځکې پر مخ یو مثبت انقلاب راغلی وای، د مځکې مخ به د حق په ښایست ډک شوی او د باطل څخه به پاک شوی وای خو له بده مرغه چې نن د الله تعالی د همدې قول پر بنیاد چې: ظهر الفساد في البر والبحر بما کسبت ایدي الناس. د مځکې مخ له فساده او ناخوالو څخه ډک شوي دي.
کڅه هم پر مسلمان د روژې د فرضیت لپاره تنها همدغه خبره کافي ده چې روژه د الله تعالی لخوا پر ده باندې فرض کړل شوې ده.
ځکه چې د الله پاک د ربوبیت تقاضا هم همداسې ده چې پر خپلو بندګانو باندې د مکلفیت پوره اختیار او واک لري هر شی چې پر خپلو بندګانو فرض کړي څوک د اعتراض او نیوکې حق نلري لکه الله جل جلاله چې په قرآن کې فرمایي: ژباړه: د الله تعالی څخه د هغه شي پوښتنه نه کیږي چې کوي یې خو دوی پوښتل کیږي.
او دا زموږ عقیده هم ده چې د الله پاک سره څوک محاسبه نشي کولای ټوله مخلوقات خلقا ملکا او عبیدا یعني په پیدایښت، په ملکېت او استخدام کې د الله تعالی په واک کې دي هر ډول تصرف چې وغواړي په کې کوي یې څوک د اعتراض او پوښتني حق نلري.
خو پدې خاطر چې د الله پاک د لارښوونو سره سم انسان د الله پاک په مخلوقاتو او قدرتونو کې په فکر کولو باندې مکلف دی او د انسان پر نیک او بد عمل الله پاک مزدوري او نتیجه مرتبه کړې ده او تربل هر چا الله پاک پر خپلو بندګانو مهربان دی لکه چې فرمایي: ژباړه: یقینا چې الله پاک پر خلګو بخښونکی او مهربانه دی.
همدا راز فرمایي: ژباړه: الله پر مخلوقاتو د ظلم اراده نه لري.
همدا راز فرمایي: ژباړه: آیا تاسو داسې ګمان کوی چې موږ تاسي عبث پیدا کړي یاست او موږ ته نه راځی؟.
نو داسی ویلای سو چی ددې مبارکې میاشتې روژه:
۱ ـ د انسان لپاره ثواب دی.
۲– انسان ته تقوی ورباندې حاصلېږي.
۳ ـ د ګناه څخه انسان ورباندې ساتل کېږي.
٤ ـ د انسان صحت ته ګټه لري.
۵ ـ انسان ته مادي او معنوي قوت ورباندې حاصلېږي.
او باید ځان پوه کړو چې دېته ارتیا شته چې انسان د عقیدې د درلودلو برسېره د الله پاک د عباداتو پر حکمتونو باندې هم ځان خبر کړي ترڅو هغوته خلک دعوت کړي او خپله یې هم په شوق باندې سرته ورسوي.
**منبع: تحف رمضانیة.**

# ابزار و تجهیزات جستجوی مدارک بیولوژیکی به جا مانده در محل واقعه

**پوهیالی سمونمل محمد ناصر مقصودی**

**این تجهیزات شامل موارد زیراست:**
ابزاردستی (ازقبیل چاقوهـای جراحی وتیغ ها، درو شاخه های فلزی.....خلال دانـدان، روکش های فلزی جنراتورهای دستی و...)
تجهیزات جمع آوری ( از قبیل قیچی یا پنس تیوپ یک بارمصرف، معرف های تقویت آثار خون، آب مقطر، گوش پاک کن و پنس های استریل، دام برای گرفتن حشرات درحال پرواز و...)
تجهیزات بسته بندی ( از قبیل پاکت های کاغذی و پرس کیپ ها دراندازه های مختلف، ظروف درب دار، قوطیهای فلزی، لوله های خون با EDTA و بدون آن، بارجامه های جمع آوری مدارک حاصل از تجاوز جنسی، بر چسپ مدارک، لوله های آزمایش استریل و...).
منابع نور جنائی شامل نور متغیر است که به تخصص امکان استفاده ازانواع طول موج های کوتاه نوع نور برای شناسایی، مشاهده و ثبت شواهد و مدرک بیولوژیکی دارای دی . ان. ای می دهد. ALS بیشترین استفاده را درمحل واقعه دارد. وقتیکه مایعات بیولوژیک مانند منی، لعاب دهن، عرق، ادرار و... درمعرض طول موج های مختلف قرارمی گیرند به فلورسانس تبدیل می شوند و می درخشند. به عبارت دیگر وقتیکه نور به مایعات بیولوژیک میتابد ازطول موجی دیگر تبدیل می شود و شرایط موسوم به خود درخشش (لومینسانس) را فراهم می آورد. خود درخشش به شکل فلورسانس درمایعات مذکور رخ می دهد. یکی ازاین منابع نور جنائی، نور ماورای بنفش(UN) است. موادی که نور مذکور را جذب کنند، فلورسانس نامیده می شوند.
روش های خاص کارمندان جمع آوری نمونه ها ی بیولوژیکی باقی مانده در محل واقعه
یکی ازکارمندان جمع آوری آثار باید حیث محافظ مدارک توظیف شود. این انتصاب منحصر به فرد ضمانت می کند که تمامی مدارک به روشی مناسب جمع آوری، بسته بندی، علامت گذاری، مهر وموم و حفاظت می شوند. هیچ مدرکی گم ویا مغشوش نخواهد شد، و از بین نخواهد رفت.
وقتیکه به اجساد، خون مایع، سیالات بدن، ذارت خشک شده خون و مدارکی که حاوی مقادیری جزئی از اقلام ذکر شده است دست می زنید از دستکش های یک بار مصرف استریل، روپوش های حفاظتی و پوشش های حفاظتی و پوشش های مخصوص سر استفاده کنید تا آثار برداشته شده مغشوش نشوند.
هیچ ترتیبی برای جمع آوری مدارک وجود ندارد اما باید ملاحظات کلی را در باره جمع آوری باید در نظرداشت. برای مثال هرشی، شکننده ای را که به راحتی از دست می رود، یا مدارک راکه تثبیت می شود باید ابتدا جمع آوری شوند.
البسه واشیایی که آثار لکه خون و افرازات بدن دارند، به عبارتی مدارک نمناک و مرطوب بیولوژیکی نظیر خون جمع آوری شده اند باید تحت جریان هوا خشک شوند، سپس در ظرف غیر قابل نفوذ یا پاکت های دولایه بسته بندی شوند و بر چسپ مناسب بخورند. اگر مدرک از شخص یا صحنه عفونی جمع آوری شده است، باید با برچسپ «احتیاط در برابر ایدز و هپاتیت» بسته بندی شود.
برای جلوگیری ازآلودگی حاصل از تماس بین مدارک، هریک ازمدارک بیولوژیکی باید مجزا جمع آوری و بسته بندی شوند. بسته ها باید همیشه در زمان جمع آوری مهرولاک شوند. این روش ضمانت می کند که در طی انتقال هیچ آمیختگی بین مدارک زیستی رخ نخواهد داد.
کارمندان جمع آوری مدارک بیولوژیکی باید بدانند تمام مدارک مذکور برای کشف علمی جرائم مهم هستند و باید جمع آوری شوند.
هنگام بسته بندی کلیه مشخصات نمونه بیولوژیکی برداشته شده از محل واقعه از قبیل محل جمع آوری، زمان جمع آوری ومشخصات فیزیکی بر روی بسته مذکور ثبت شود.
روش راست جمع آوری مدرک بیولوژیکی خون
لکه های خون، یکی از مدارک مهم وغیر قابل انکار است که در بیشتر محل واقعه به خصوص قتل و سرقت همراه با تجاوز به شدت و به یکی حالات مایع، خشک و شسته شده یافت می شود. با آزمایش خون، می توان اطلاعاتی با ارزش در باره هویت مجرم کسب کرد.
بنابراین در کشف علمی جرائم جمع آوری صحیح و آزمایش دقیق لکه های خون از اهمیتی فوق العاده بر خوردار است.
هرگاه درمحل واقعه با افرازات جلدی بیولوژیکی مانند خون مواجه شدیم، ابتدا باید احتیاط لازم را در نظر بگیریم مثلاً از دستکش های یک بار مصرف، روپوش های حفاظتی، پوشش ها ی مخصوص سرو محافظ های چشم استفاده کنیم تا ازخطرات بیولوژیکی و آلودگی لکه های خون درمحل واقعه جلوگیری شود.
چنانچه مقدارخون باقی مانده روی اشیاء خشک نشده و قابل ملاحظه باشد، قطعه ای گاز پانسمان بهداشتی به اندازه حدود ۲ سانتی مترا با پنس بهداشتی روی خون می کشیم تا خون کاملاً جذب تکه شود. و اگر ذرات خون مایع، جزئی وکوچک باشد، دو یا سه تار بهداشتی به طول ۳ سانتی متر را به خون آغشته می کنیم و پس از آنکه درمعرض هوا خشک شد در لوله آزمایشی تمیز و در صورت امکان یک بار مصرف می گذاریم و درب آن را با پارافین می بندیم وآدرس محل نمونه برداری را برروی آن یادداشت می کنیم . مثال نمونه خون برداشته شده از روی کارد آشپزخانه.
**نتیجه‌گیری:**
همان طورکه می دانیم، درسال های اخیراز کشف علمی جرایم با توجه به پیشرفت های چشمگیری که داشته از اثر تلاش و دقت تیم بررسی محل واقعه است.
چنانچه درمحل واقعه شخص مسلکی در زمینه جمع آوری مدارک بیولوژیکی اعمال شود، حتی با استفاده ازتمامی تجهیزات مدرن، مانند تکنالوژی دی .ان.ای- FINGERPRINTING نیز قادر نخواهیم بود بر کمبودی های موجود دست پیدا کنیم و در دوسیه های جنائی آینده نیز تثبیت هویت مجرمان امکان پذیر نخواهد بود.
تصمیمات محکمه فقط به مدارک ارائه شده درمحکمه ارتباط دارد و از این رو کارکنان جمع آوری کننده آثار به جامانده درمحل واقعه باید قبل ازبین رفتن وفاسد شدن، نهایت تلاش وکوشش خود را درجمع آوری ونگهداری صحیح ودقیق مدارک مبذول دارند.
از این مدارک می توان برای شناسایی مجرم و یا برای اثبات یا رد دلایل عدم حضورفردی (اثبات غیابت، الیبی) درمحل جرم هنگام وقوع استفاده کرد. بنابر این ضروری است که قبل ازجمع آوری مدارک، فنون جمع آوری صحیح وقوانین ومقررات مربوط به آنها مورد توجه قرار گیرد.
بسیار ی از مجرمان با روش اخذ نشان انگشت دی. ان . ای شناسایی می شوند، فقط کافی است نمونه ای بیولوژیکی از آن، مثل قطره ای خون، چند تار مو و یا مقداری اسپرم... درمحل باقی مانده باشد.

**منابع:**

۱– سوانسون، چارلز، نیل سی چاملین ولئونارد تری تو.(۱۳۸۱) ، تحقیقات جنایی، ترجمه مهدی نجابتی، رضا پرویزی واصغر شفیعی نیک، تهران، انتشارا جهاد دانشگاهی.
۲– همتیري، مهران.(۱۳۸۶)، دندانپزشکی قانونی، دوماهنامه کار آگاه ش ۲۴.ص ۷۷.
۳– پلات، ریچارد. (۱۳۸۶) محل واقعه، ترجمه عباس خانه زاد رضوی، تهران، نشر کار آگاه وابسته به پولیس آگاهی ناجا.


# د Viagra په زور جنسي اړیکې څه زیان لري؟

**ډاکټر زاهد نایل**

د جنسي کمزوري له مشهورو درملو څخه یو هم د (Pfizer) کمپنی Viagra دي، چې اصلي نوم یې Sildenafil دی او په بازار کې د ګولیو، پیچکاریو او کریمونو په بڼه پرېمانه پیدا کېږي.
دا درمل په ۱۹۹۱ز کال کې د Angina (د زړه د آفت له کبله د سینې د حملوي درد) د تداوي په موخه رامنځ ته شول، خو له ۱۹۹۸ز راهیسې بیا د Viagra په نوم په مارکېټونو کې د جنسي کمزوري د تسکین/ درملنې په موخه کارول کیږي؛ ځکه چې دا درمل د جنسي آلې رګونو ته د وینې د بهیر په ډېرولو او چټکولو سره د Erectile DysFucntion (د جنسي آلې سم نه راپورته کېدلو) آسانه حل لاره ده، البته چې دا بیا په خپل ځای د دغه موقتي ګټې تر څنګ ګڼې ژوند تهدیدونکې ستونزې هم راولاړوي.
هغه خلک چې نوی ګډ ژوند پیلوي، جنسي بې لارې پاتې شوي وي، ډېر عمر ولري یا هم په داسې ناروغیو اخته وي چې د دوی جنسي ژوند یې اغېزمن کړی وي، دغو درملو ته مخه کوي.
څېړنې ښيي، چې په جنسي اړیکه کې د دخول او انزال فاز له ۲ ـــ ۷ دقیقو پورې نارمل تصور کیږي، همدا بسنه کوي، خو که د چا دغه ټایمینګ په همدې رینج کې نه وي نو په خپل سر د دغو درملو کارولو پر ځای دې روغتیایي مرسته وغواړي او د خپلې ستونزې د سالم حل په لټه کې دې شي. په لنډمهالې توګه د دغو درملو کاروونکې، د کوروالي پر مهال له خپل جنسي قوت څخه رضا وي، یو قسم ډاډمن وي، فکر کوي چې په شدیدې او نسبتاً اوږدې جنسي اړیکې سره یې د تکړه والي یو زبردست خیالي انځور جوړ کړی یا په اصطلاح عزتِ نفس یې ساتلی، لوړ کړی او عجیبه پیاوړی د «مردانګي» احساس ورته پیدا وي.
د پورته یادو شویو موقتي ګټو ترلاسه کولو په خاطر د دغو درملو کاروونکي د ځینو عمومي او عادي جانبي اعراضو، لکه: سردرد، سر چرخي، د مخ سره کېدل، د پوزې بندښت، بدهضمي او نورو په ګډون له داسې ژوند تهدیدونکو حالتونو سره مخ کېدلای شي چې دوی یې تصور هم نه وي کړی. چې یو له هغو څخه روږدي توب دی. دغه خلک بیا د یادو درملو له کارولو پرته هیڅ د جنسي اړیکې سوچ هم نشي کولای او ځینې نور وخیم حالتونه یې بیا په لاندې ډول دي:
۱ ـ د لید تغیرات یا هم بشپړ له لاسه ورکول
۲ ـ اورېدلو نه محرومېدل یا هم په غوږونو کې شنګاری
۳ ـ د سینې درد یا د زړه غیر منظم ټکان
٤ ـ ساه تنګي یا د نفس بندېدل
۵ ـ مېرګي او عصبي حملې
او هغه خلک چې په یوه وار د ویاګرا په شمول څو نور د جنسي تقویې مستحضرات هممهاله وکاروي یا هم یوازې ویاګرا په هغه خپله ښودل شوې طریقه و نه کاروي یا یې په لوړ ډوز استعمال کړي، احتمال شته چې ناڅاپي مړینې سره مخ شي.
هغه خلک چې بیا هم دغه درمل کاروي، باید په اړه یې روغتیایي مشورې واوري او عملي کړي. او هغوی چې د لوړ فشار، قلبي ناروغیو، ایډز، ځینې فنګسي ناروغیو، یو لړ مکروبي ناروغیو او خپله د جنسي تقویې لپاره بېلا بېل درمل کاروي، نو د ویاګرا په استعمال کې دې ډېر احتیاط وکړي، چې د فشار د یو دم ښکته کېدلو، د دغو درملو د اړخیزو عوارضو (تاوانونو) د زور کېدلو او یا هم په صورت عموم سره د ډوز د انتهایي زیاتېدلو له کبله سکته ونه کړي.
که په لنډه توګه ووایو هغه درمل چې ویاګرا ورسره Interaction ښيي، یانې تاثیر یې خرابوي یا یې جانبي عوارض زیاتوي، دا دي:
۱- Nitrates:
د بېلګې په توګه NitroGlycerin یا Amyl Nitrate چې په قلبي ناروغیو او د لوړ فشار درملنه کې کارول کېږي.
۲- Alpha Blockers: لکه Tamsulosin, Prazosin او نور چې د لوړ فشار او پرسېدلې پروستات درملنه پرې کېږي.
۳ـ Protease Inmibitor : ځینې هغه درمل چې په د HIV د تداوي لپاره استعمالیږي لکه Ritonavir.
٤ ـ د جنسي کمزوري نور درمل لکه Verdenafil او Tadalfil چې په بازار کې د Cialis او Levitra په نوم پیداکیږي.
۵ ـ ځینې نور درمل چې د لوړ فشار او فنګسي ناروغیو د درملنې په موخه کارول کیږي او یا هم ځینې مکروب ضد درمل.
له جنسي کمزورۍ یا په اصطلاح دغه د کمزوري له سوچ څخه د خلاصون ځینې لارې چارې شته چې د وخت په تېرېدو سره یې له دغو درملو څخه ګټه ډېره ده، راځئ چې ویې لولو:
۱ـ فزیکې فعالیت کول: دوامداره ورزش مو هم وزن برابر ساتي او هم مو د جنسي آلې په شمول د بدن ټولو رګونو ته د وینې جریان ډېروي، چې دا دواړه کاره مو کوروالي ته ګټه رسوي.
د یادې ستونزې د حل لپاره مفید تصور کېدونکې ځینې ځانګړې مشق او تمرینونه هم شته چې له مختلفو اړونده لارو یې زده کولای شئ.
۲ـ مناسب غذایي رژیم: لکه د مېوو او سابو ډېر کارول، له ماهي او نورو غیر شحمي پروټیني ذریعو څخه استفاده او بازاري غیر معیاري خواړه او الکول پرېښودل.
۳ ـ د Stress تنظیمول: له سټرېس یانې ذهني بوج او خپګان نه ځان ساتل، چې ښه لارې یې رواني مشورې، مراقبه، یوګا، ژوره ساه اخیستنه او نور آراموونکې تخنیکونه دي.
٤ ـ مناسب خوب: د شپې له مخې ۶ ـ۸ ساعتونو خوب او غرمه مهال یوه شېبه سترګه پټول، چې دا مو هم د جنسي هورمونونو سویه تنظیموي او هم مو عمومي روغتیایي تقویه کوي.
۵ ـ او بالاخره د طبي مرستې او توصیې په لټه کې کېدل چې د هغو لپاره مربوطه ماهرینو ته ورتګ لازم دی.

# بررسی قاعده فقهی «وزر» در نظام حقوقی افغانستان

پوهنیار محمدیعقوب رسولی / بخش نخست

**چکیده**

قاعده فقهی «وزر» یا اصل شخصی بودن مسؤولیت جزایی، بدین معنی است که جرم یک عمل شخصی است و اقارب به خاطر عمل خلاف قانون مجرم مورد مجازات قرار نمی‌گیرند. اما سوابق تاریخی نشان دهنده آن است که در گذشته مسؤوولیت جمعی بوده و نه تنها که خانواده، اقارب و قبیله مجرم در قبال جرم ارتکابی مسؤول بودند، بلکه اطفال صغیر، مجانین و حتی حیوانات نیز در صورت ارتکاب جرم مورد پیگرد قانونی و مجازات قرار می‌گرفتند.

عدم رعایت اصل مذکور باعث تعذیب و شکنجه افرادی بیگناهی می‌شود که هیچگونه دخالتی در ارتکاب جرم نداشته‌اند. به همین دلیل اندیشمندان در طول تاریخ تلاش ورزیده‌اند تا با ارایه راهکاری، بشریت را از ظلمی که از این ناحیه متحمل می‌شدند، برهانند. اولین دینی که به صورت رسمی اصل شخصی بودن مسؤولیت جزایی را به رسمیت شناخت دین مقدس اسلام بود که ضمن تأکید بر آن در منابع معتبر خویش اعم از قرآن و سنت، پیشوایان این دین به صورت عملی نیز در راستای نهادینه ساختن آن تلاش ورزیدند. بعد از قرن ۱۸ میلادی این اصل در کشورهای غربی توسط اندیشمندانی چون منتسکیو، بکاریا و... مطرح گردید و از آن پس به صورت نظام‌مند وارد نظام حقوقی کشورهای جهان از جمله افغانستان گردید.

نظام حقوقی افغانستان که آمیخته‌ای از آموزه های دین مقدس اسلام و دست‌آوردهای نوین حقوق موضوعه است، همواره اصل شخصی بودن مسؤولیت جزایی را که در راستای جلوگیری از ظلم و استبداد نقش بارزی را ایفا می‌کند، به رسمیت شناخته و تمهیداتی را هم در قانون اساسی و هم در سایر قوانین کشور برای آن در نظر گرفته است.

از آنجایی که تطبیق یک جانبه و بدون استثنای این اصل به گونه‌ای دیگر زمینه بی‌عدالتی و ظلم را فراهم می‌کند، بنابراین با توجه به استثناأت که سایر کشورها برای اصل مذکور در نظر گرفته، نظام حقوقی افغانستان نیز استثناأتی را برای اصل شخصی بودن مسؤولیت جزایی در قوانین خویش بر شمرده است.

**واژگان کلیدی: قاعده وزر، نظام حقوقی، کود جزا**

**اصل شخصی بودن مسؤولیت جزایی در نظام حقوقی افغانستان**

نظام حقوقی افغانستان آمیخته‌ای است از آموزه‌های دین مقدس اسلام و حقوق عرفی که در پویایی و شکوفایی آن نقش ارزنده‌ای را بازی نموده است. این موضوع می‌تواند از جمله نقاط قوت نظام حقوقی افغانستان به شمار رود، زیرا در عین حالی‌که قانونگذار افغانستان از مزایا و دستآوردهای حقوق عرفی برای تدوین قوانین مؤثر و کارآمد در راستای تأمین نظم اجتماعی، پیشرفت و توسعه استفاده می‌کند، با پشتوانه قراردادن قواعد فقهی برای حقوق موضوعه که برگرفته از منابع معتبر اسلام اعم از قرآن، سنت، عقل و اجماع است، ضمانت اجرای لازم اخلاقی و درونی را برای نظام حقوقی جمهوری اسلامی افغانستان رقم زده‌اند.

اصل شخصی بودن مسؤولیت جزایی که از جمله اصول مهم و اساسی حقوق جزا در راستای جلوگیری از ظلم و استبداد توسط دستگاه حاکم به شمار می‌رود، مباحث متعدد را هم در شریعت مقدس اسلام به عنوان منبع درجه اول نظام حقوقی افغانستان و هم در حقوق موضوعه این کشور به خود اختصاص داده که در ذیل برخی موارد مهم آن را مورد ارزیابی قرار می‌دهیم.

**۱- اصل شخصی بودن مسؤولیت جزایی در شریعت مقدس اسلام**

فقهای اسلامی، اصل شخصی بودن مسؤولیت جزایی را در قالب قاعده فقهی «وزر» بحث نموده‌اند که برگرفته از آیه شریفه «ولاتزر وازرهٔ وزر اخری» می‌باشد. این آیه مبارکه با عین مضمون پنج بار در سوره‌های مختلف تکرار شده است که تفاوت آنها تنها در مقدمه‌ی جمله است. تفسیر کابلی در خصوص این آیه مبارکه می‌فرماید، کافران در توحید و امثال آن با مسلمانان مجادله می‌کردند و می‌گفتند شما طریق توحید را بگذارید و به آیین ما در آید اگر در آن گناهی باشد، به ذمه‌ای ما. در این جا پاسخ آنها داده شد که گناه هر کس به دوش خود او است و هیچ‌کس گناهی دیگری را برداشته نمی‌تواند. مجادله و اختلاف شما همه به حضور الهی باز می‌گردد و آنجا بررسی می‌شود. جهان جای فیصله نیست، بلکه عرصه‌ای امتحان و آزمون است.(تفسیرکابلی، ۱۳۸۲: ۸٦۵)

از نظر تفسیر المیزان، مفاد این آیه شریفه آن است که به طور کلی اشخاص هیچ عمل زشتی نمی‌کنند مگر اینکه خود صاحبان عمل، وزر و وبار آن را به دوش خود خواهند کشید، و هیچ‌کس وزر دیگری را به دوش نمی‌کشد؛ و این آثار سوء همچنان باقی است تا روزی که خلایق به سوی پروردگار خود بازگشت کنند، پروردگار با کشف حقایق اعمال بندگان جزای آنان را بدهد.(طباطبایی، بی‌تا، ۵٤۵)

با توجه به اینکه اصل مذکور از اهمیت بسزایی در راستای جلوگیری از ظلم و بیدادگری برخوردار بوده خداوند متعال به گونه های دیگری نیز بندگان خویش را نسبت به نقض این اصل هشدار داده و در جهت رعایت آن تأکید نموده است که آیات «کسب» با این مضمون که هر کس به آنچه می‌کند در گرو آن است یا هر انسانی در گرو کار و کردار خویش است از جمله آن می‌باشد.

دومین منبع معتبر شریعت مقدس اسلام که همانا سنت پیامبر گرامی اسلام(ص) است، نیز به اصل شخصی بودن مسؤولیت جزایی تأکید دارد. در حدیثی که ابوداوود از ابو رمثه نقل می‌کند آمده است: همراه پدرم به سوی رسول خدا(ص) رفتیم. پیامبر به پدرم فرمود: این پسر توست؟ پدرم گفت: قسم به پروردگار کعبه بلی. پیامبر فرمود: حقیقتاً به آن شهادت می‌دهم. آنگاه تبسم فرمودند از اینکه چقدر شباهت من به پدرم زیاد است و پدرم بر آن سوگند خورد. سپس پیامبر(ص) فرمود: ولی بدان که او جنایت تو را بر عهده نمی‌گیرد و تو جنایت او را نمی‌توانی بر عهده بگیری. و قرائت فرمودند آیه وزر را.(زحیلی، بی‌تا: ۱٦٤)

در حدیث دیگر که از امام شافعی(رح)، رئیس مذهب شافعیه نقل شده است، پیامبر(ص) فرمودند: هیچ‌کس به جرم پدر یا به جرم برادرش مورد مؤاخذه و مسؤولیت قرار نمی‌گیرد. (محقق دادماد، ۱۳۸۳: ۱٦۳)

اصل شخصی بودن مسؤولیت جزایی، نه تنها که در گفتار پیامبر گرامی(ص) و جانشینان معصومش از نظر تئوری بیان گردیده، بلکه آن بزرگواران در عمل هم ثابت ساخته‌اند که این قاعده را می‌پذیرند و خود را ملزم به اجرای آن می‌دانند. چنانچه در حادثه ضربت خوردن حضرت علی(ک) در محراب مسجد کوفه توسط ابن ملجم مرادی در صبحگاه نزدهم رمضان سال چهلم هجری قمری، تا زمانی‌که حضرت حیات بودند، همواره فرزند ارشدش امام حسن(رض) را توصیه می‌کرد که مبادا بعد از فوت من خونریزی به پا کنید، مبادا کسی را به خاطر رفاقت با ابن ملجم و یا اینکه با وی مراودت دارد یا به وی پناه داده مورد اذیت و آزار قرار دهید.

از مجموع مباحث فوق نتیجه می‌گیریم که شریعت مقدس اسلام اصل شخصی بودن مسؤولیت جزایی را حدود چهارده قرن قبل از امروز به رسمیت شناخته و نسبت به رعایت آن تأکید ورزیده است. اما ترجیح منافع شخصی و خانوادگی حاکمان اسلامی نسبت به ارزش‌های دینی از یکسو و رخوت و تنبلی علمای اسلام در طول تاریخ باعث گردید تا این اصل و سایر اصول بنیادین حقوقی که شریعت مقدس اسلام افتخار ابداع آن را داشت به فراموشی سپرده شده و بعد از قرن ۱۸ همه این افتخارات به اندیشمندان و حقوقدانان غربی منتهی گردید.

ادامه دارد ...

# تبین اهداف تشکیل خانواده

ترتیب کنند: پوهنیار محمد حامد رامکی

**مقدمه:**

معلومات انسانها برای بقای نسل و خدمت به دین اسلام و اجتماع سازنده تشکیل خانواده میباشد، پس لازم است تا اهداف را که خانواده بر بنیاد آن ایجاد میشود را درک کرده و بدانیم، تا توانسته باشیم خانواده و اجتماع سالم و ایده آل داشته باشیم. در این مقاله کوشش صورت گرفته تا اهداف تشکیل خانواده به بحث گرفته شود و توضیح گردد.

**اهداف تشکیل خانواده**

به عقیده‌ی بعضی از دانشمندان، خانواده به‌عنوان یک سازمان فعال، متحرک، زنده و بنیادین است، لذا همانند هر سازمان دیگر، اهداف خاصی برای تشکیل و تداوم آن می‌توان درنظر گرفت، تشکیل خانواده پدیده‌ای است که در نیمه‌ی اول زندگی شکل میگیرد، لذا هدف آن است که از آرمان کل، زندگی جدا نیست، اما این که هدف زندگی کدام است، از دیدگاه مختلف پاسخ‌های متفاوت برای آن وجود دارد:

۱. از دیدگاه اسلام، هدف زندگی رسیدن به سرحد کمال و بالندگی است.

۲. از دیدگاه یونگ، هدف زندگی، یافتن توفیق و جای در جهان است.

۳. از دیدگاه فرانکل، هدف زندگی از خود فرا رفتن، جذب معانی، منظور شدن و رسیدن به خواسته‌ها است، به این معنی که غرق شدن در کار با چیزی فراتر از آن و به هدف زندگی است.

٤. آلپورت نیز معتقد است، کسانی که از سلامت روانی برخوردار اند، فعالانه در پی اهداف، امیدها و رویاهای خویش اند و ایثار و حس تعهد، معنی و هادی زندگی آنهاست.

با این حال برخی از اهداف تشکیل خانواده اجمالاً عبارتند از:

**الف : تحقق جامعه سالم**

خانواده واحد بنیادین جامعه و تابعی از آن محسوب می‌شود، تشکیل خانواده از یک لحاظ به این معنی است که به خواست‌ها و تمایلات انسان‌ها، در حد اعتدال و در محدوده‌ی معقول آن، پاسخ داده شود، در این صورت موجبی برای آسیب‌ها و انحرافات اخلاقی و فرهنگی باقی نمی‌ماند از این‌رو، هرتلاش و کوششی به منظور تشکیل خانواده حقیقی و واقعی گامی در جهت تحقق جامعه سالم محسوب می‌شود، علاوه بر این، تشکیل خانواده موجب افزایش امید به زندگی، حس مسؤولیت‌پذیری، جستجوی شغل و درآمد مکفی را سبب می‌گردد.

**ب : تداوم نسل**

یکی دیگر از اهداف تشکیل خانواده، تداوم نسل است، شاید انگیزه همه انسان‌ها برای داشتن فرزند به نیرومندی انگیزه‌ی ازدواج نباشد، برای این دسته از زوج‌های جوان تشکیل خانواده، شرط لازم و کافی برای فرزند آوری، تلقی نمی‌شود، با این حال می‌توان عواملی را جستجو کرد که هرکدام انگیزه قابل توجهی برای داشتن فرزند به‌حساب می آیند، برخی از این عوامل عبارتند از:

۱. رفع یک نواختی زندگی: فرزند کانون زندگی را از حالت یک نواختی خارج کرده و به آن شور و نشاط می‌دهد،

۲. نیاز به جاویدانگی: هریک از زن و مرد، فرزندان را دلیلی برای تداوم حیات خویش دانسته و از این طریق به نیاز «جاویدانگی ماندن» خود پاسخ می‌دهد،

۳. جاذبه‌های خلقت: ارسطو معتقد است که جاذبه‌های خلقت، روح زن و مرد را بر می‌انگیزد تا رد سایه‌ی وصال، عشق و محبت متقابل خود را تعویض کنند، فرزند ثمره‌ی از عشق پاک زن و مرد به یک‌دیگر محسوب می‌شود،

٤. معنی بخشیدن به زندگی: انگیزه ازدواج «تشکیل خانواده» و «تولد فرزند» به ترتیب حلقه‌های از چرخه‌ی حیات مشترک است و با ظهور هریک، تعلقات روانی و عاطفی آن، احساس تعلق به فرزندان و فرزندان به والدین، موجب پیوند عاطفی تازه‌ای می‌شود.

**ج : تأمین نیاز اساسی**

نیازهای بشری از بدو تولد، زندگی او را تحت تأثیر خود قرار می‌دهد، این نیازها به دو دسته به نام‌های نیاز اولیه و نیاز ثانویه یا نیاز حیاتی و نیاز روانی یاد می‌گردد، تقسیم می‌شود، نیازهای حیاتی شامل نیاز به آکسیجن، آب، غذا، استراحت و... می‌باشد و نیازهای روانی همچون امنیت، تعلق، احترام، منزلت، فهم و درک متقابل، تکریم زیبایی، خود شگوفایی و نیاز به محبت و عشق می‌باشد.

نیازهای حیاتی به حیات انسان‌ها وابسته بوده و در صورت عدم آن زندگی به پیش نمی‌رود، اما با نبود نیازهای روانی، سیستم زندگی اختلال پیدا می‌کند و زندگی را به انواع چالش‌ها رو در رو می‌سازد، ازدواج موقعیتی را برای زن و مرد مجیا می‌سازد تا در پرتو زندگی مشترک بتوانند اولاً به بخش قابل توجهی از نیازهای حیاتی خود یعنی غریزه‌ی جنسی آن هم در محیط سالم، پاک و مشروع پاسخ دهد و با تکیه بر آرامش به دست آمده از آن قادر به پذیرش مسؤولیت‌ها و وظایف‌شان گردند و ثانیاً به تأمین نیازهای اساسی روانی خود اهتمام ورزند.

**د : تربیت اجتماعی نسل**

از اهداف دیگر تشکیل خانواده، پرورش فرزندان سالم و شایسته است، آنچه باید مورد توجه زوج‌های جوان قرار گیرد، صرفاً فرزند آوری نیست، بلکه تربیت فرزندان به شکل کامل و جامع آن، منظور نظر است، چنین هدفی از ابتدای تشکیل خانواده، باید مورد اهتمام همسران جوان باشد، خانواده‌ها می‌توانند عامل مهمی برای هدایت و یا گمراهی اطفال‌شان باشند، موجبات خیر و صلاح نوجوانی را برای اطفال فراهم سازد و یا در اثر بد آموزی‌ها و زمینه‌سازی‌ها در جهت انحراف‌ها موجبات لغزش و فساد آنها را تهیه سازد.

در توضیح تربیت کامل و جامع می‌توان گفت که چنین تربیتی دارای ابعاد متنوعی مانند عاطفی، اجتماعی، عقلی، فیزیکی و اخلاقی است، تربیت اجتماعی یکی از مؤلفه‌های اساسی است که تحقق آن نیاز به محیط مساعد دارد و خانواده اولین نهاد تربیتی است که شرایط لازم برای این مؤلفه را دارا است، از دیدگاه ماکس وبر، خانواده نوعی دید تاریخی از اجتماعی شدن تلقی می‌شود، ذیلاً برخی از دلایل مرتبط به نقش کارکردهای خانواده در تربیت اجتماعی فرزندان، ارایه می‌گردد:

۱. خانواده اولین و با نفوذ ترین محیط تربیتی برای فرزندان است، وجود پیوندهای عاطفی میان والدین و فرزندان راه را برای تحقق ابعاد تنوع تربیت از جمله تربیت اجتماعی، هموار می‌سازد.

۲. از زمان تولد الی هفت سالگی، مهم‌ترین دوران شکل‌گیری شخصیت محسوب می‌شود، اثرات تربیتی این دوران به اعتقاد بسیاری از اندیشمندان تا سالیان بسیار طولانی باقی می‌ماند، از جمله معتقد به این نظر «کارن هورنای» است، خانم هورنای در اروپا متولد شد و در همان جا به تحصیلات پرداخت، وی روانکاوی را در برلین زیر نظر دو تن از پیروان فروید یاد گرفت، سپس به آمریکا مهاجرت کرد و در آن زمان در آمریکا بیماری افسردگی زیاد بود، هورنای به وسیله‌ی روانکاوی به این نتیجه رسید که بیماران بیش از آنکه ناراحتی‌های جنسی داشته باشند، عدم امنیت و عدم تأمین شغلی دارند، بناءً هورنای با رابطه‌ی فرد با محیط توجه داشت، به این اساس، او معتقد بود هرچه سبب از هم گسیختگی و آشفتگی امنیت کودک شود، موجب پیدایش اضطراب بنیادین در او می‌گردد.

۳. والدین نقش خود را در تربیت اجتماعی فرزند، با بهره‌گیری از روش همانندسازی «الگوگرایی» ایفا می‌کنند، کودک از سال‌های نخستین زندگی، رفتار والدین را اقتباس نموده و در صدد درونی کردن آنها بر می‌آید، این امر به تدریج جای خود را به همانند سازی با والدین هم‌جنس می‌دهد، به این طریق رفتار مطلوب جنس خویش را از پدر یا مادر می‌آموزد.

**منابع و مأخذ:**

۱- حسین، محمودیان، دانش خانواده، تهران: نشر سمت، ۱۳۸۳، صص ۸۹ - ۹۱.

۲- کوئن، بروس، مبانی جامعه‌شناسی، تهران: نشر سمت، ۱۳۹۱.

۳- محمد ناصر، حبیبی، روان‌شناسی انحرافات جنسی، کابل: انتشارات سعید، ۱۳۹٦، ص ۲۷.

٤- میرزاد، میر اکرم، روان‌شناسی نوجوانان، کابل: انتشارات خراسان، ۱۳۹۳.صص ۳٦ - ۳۷.

# د مولوي عبدالغفار بريالي د شاعرۍ سبک

**خالد روښان**

سبک د هغو ځانګړنو او متفاوتو تولګه ده چې د یو شاعر او لیکوال توپیر له نورو سره پرې کېږي. په سبک کې ډېر څه راتللی شي. سبکونه هغه لارې ګودرې دي چې لارویان او عقیدتمندان د یو شاعر او ادیب کور پرې په اسانه موندلی شي. د سبک لغوي مانا لاره، طریقه او مسیر دی. ټول انسانان د ژوند، کړو وړو، خبرو، چلن د او هر ډول تعامل بېل بېل انداز او طرز لري. په انګریزي کې سبک ته (style) وایي، چې له سبک څخه پراخه مانا لري او ډېرې خواوې په ځان کې رانغاړي.

د شاعر په سبک کې بېلابېل عناصر ځای لري چې له ځینو یې یادونه کوو: یو؛ تخیل: تخیل هغه لومړنی عنصر دی چې مور پرې د یو شاعر د شعري قریحې په اړه پرېکړه کولای شو او داده ترلاسه کوو چې نوموړی شاعر د خیال کولو کچه څومره ده. تخیل د شعر او هر هنر بنسټیز عنصر دی چې له دې عنصر پرته هنر، هنر نه پاتې کیږي.

**دوهم؛ مفکوره:** دا هغه بارز او متمایز عنصر دی چې د ډېرو شاعرانو د سبک بنسټ پرې اېښودل شوی دی. د قلم خاوندان خپله ایډیالوژي او فکري سیر لري. مور پر هغه مفکوره بحث کوو چې د شاعر په شعر کې وځلېږي او راښکاره شي. یعنې شاعر د کوم طرز فکر څښتن دی او ایډیال نظام یې کوم دی؟دری؛ عاطفه: عاطفه هغه تخم دی چې د شعر ونه ترې تېغ وهي او زرغونیږي. عاطفه د چاپېریال پر وړاندې د انسان ټولو ذهني برخوردونو ته وايي. مثلا: مینه، غوسه، کرکه، ظلم، اندېښنه، څور او نور... عاطفه هم د شاعر د سبک په رښولو کې ونډه درلودلای شي. عاطفه لکه جوهر د شاعر کلام ځلولی شي. عاطفي شاعر مخاطبین له ځانونو سره ساتي.

اروابناد عبدالغفار بريالي د خپلې جلا لارې څښتن شاعر دی. چې په شعر کې د کلاسیک شعر ټولې ځانګړنې راټولې دي. د کلام متانت، د ژبې ثقه‌والی او د نورو ژبو د ویونو استعمال په کې واضح لیدل کیږي. تاسو یې دا شعر ولولئ، د کلاسیکې شاعرۍ مینه مو درماتوي.

**چیغې مه وهه زاهده د بیا بیا**
**چېرته زه چېرته توبه چېرته تقوا**
**د بَل اور مخ په خاشو کله راګرځي**
**چېرته رند، چېرته شوخي، چېرته حیا**
**د ریا ژړا له موږ څخه مه غواړه**
**چېرته مې، چېرته مستي، چېرته ژړا**
**د پرهېز پښې مې ساقي کړې غبرګې ماتې**
**چېرته شل، چېرته مزل، چېرته صحرا**
**په خلوت کې مې زهره چوي ګرم نه یم**
**چېرته دښت، چېرته چېرته ماهی، چېرته بقا**
**خوشي، خوشي راته مه وایه طبیبه**
**چېرته مړ، چېرته لحد، چېرته دوا**
**ملامت یم چې له شیخ رندي غــــواړم**
**چېرته خس، چېرته جماد، چېرته وینا**
**هر سر وړ، ددې درد نه دی بریالــــیه**
**چېرته تاج، چېرته شاهي، چېرته ګدا**

د بریالي د شعر نازکی او د هنر اوج ته که وګورو نو هغه ته په پښتو کې د هندي سبک معاصر استازی شاعر ویلی شو، چې دا ویاړ یې لا وړاندې ترلاسه کړی دی.

**تور لباس چې دې زیبا سپین بشر واخیست**
**هـــسې ښـــکاري لکه تندر چې لمر واخیست**
**دا ســـرې سترګې د آبرو پـــه قالب زېب کړي**
**یا سپوږمۍ په غبر د ستوري ثمر واخیست**
**یـــا کعبه د تـــور اطلس پـــه پوښ کې پټه**
**یا پـــر مـــخ دې تـــورو زلفو ګذر واخیست**
**بـــوراګان بـــه پرواز کاندي د ګل څنګ تـــه**
**د کاکل بـــورا مـــې غوند د زړه سر واخیست**
**کبرجن ګـــیسو دې مـــات مخ پـــه زلفانو**
**کـــه فـــرعون و دوږخ تـــه بستر واخیست**
**کـــج آبرو تر کاکل لاندې خدای دې خیر کړي**
**کـــه جلاد پـــه لاس د قتل خنجر واخیست**
**پـــه کنار د خـــولې سرې شونډې مناسبې**
**دیاقوتو قـــدر حـــوض کـــوثر واخیست**
**د حمید لـــحد بـــه بیـــا پـــه رقص راشي**
**بریالي پـــه جېب کـــې نوی دفتر واخیست**

اروابناد د خپل ژور شعر او لوړ تخیل په وجه خپل ځای ساتلی دی. خو بدبختانه هومره کار ورته و نه شو چې په کار ده. د دې معاصر خو په کلاسیک خم کې رنګ شاعر د فکر او تخیل مرغلرې راسپړل په کار دي.

**چې د وفا د پله یې قدر پر سینه څرېږي**
**شهیده اوښکه تر ښو په یوه پښه څرېږي**
**د ځوان افق له غاړې وباسي مروند د تیارې**
**د سره شفق پر لمن څه نادوده شپه څرېږي**
**دکائیناتو سیند ته ګډ شي د اسمان پر ګودر**
**مغروره لمر پورې د ژوند بېړۍ چپه څرېږي**
**د بیابانو مرده ګان وېښ کاندي په دم د هوا**
**چې غاټولونه د کمر پر ملا کړه څرېږي**
**د تورتمو له نسه وباسي سپېدې د سهار**
**د اسمان څکې غره له غوږې چې ډېوه څرېږي**
**د شمالو ګوتې یې خلاصې کړې تڼۍ د ګرېوان**
**تاندې غوټۍ چې د ګلاب پر تنابچه څرېږي**
**د صبحدم عطار وروا چوي شبنم په غاړه**
**خو ترلبانو د نرګس نرمه خوله څرېږي**
**د بریالي وخیال ته واغوندي تور رنګه جامې**
**چې سترې هیلې یې د قتل په تخته څرېږي**

# د اسلامي عقايدو پېژندګلوي

**لومړۍ برخه / شیخ الحدیث صبغت الله مولوي زاده / ژباړن: محمدصادق طارق**

عقیده څه شی ده؟

لکه څنګه چې هر انسان له دوو بېلابېلو؛ عادي او رسمي حالاتو برخمن دی چې په عمومي ځایونو کې یې حالات عادي او په رسمي ځایونو کې رسمي دي، کړنې او خبرې هم دوې برخې لري چې له یو او بل سره یې فرق ښکاره کېږي.

الف-عادي کړنې او خبرې لکه: خوراک او څښاک، ناسته او ولاړه، خوب او ویښتوب او نور معاملات چې د بشري (شهواني او غضباني) قوتونو د تقاضاء پر بنسټ او د دوامدارې ارادې له مخې را پورته کېږي، دغه کړنې او خبرې ډېر وخت د انسانانو په زیاتو افرادو کې برابرې وي.

ب -رسمي کړنې او خبرې: انسان په ځانګړي چوکاټ سره ځای پر ځای کړې وي او په هماغه خاص محور کې یې تر سره کوي لکه : د شیانو حلال او حرام ګڼل، اطاعات، عبادات او ثوابونه چې د انسانانو طبقې او طائفې په دغه رنګ کړنو او خبرو کې د پام وړ توپیرونه لري؛ یو به مردار شوی حیوان حلال بولي او خوري به یې، خو د بل چا له انده به یې خوراک حرام وي. یو به د بتانو لپاره نذر او نیاز ښه کار ګڼي او بل به یې له حرامه پورته اکبر الکبائر بولي. د عادي او رسمي کړنو او خبرو تر مابین بل توپیر: سره له دې چې دغه دوه ډوله اقوال او افعال د قصد او اختیار له مخې ترسره کېږي او له دې اړخه سره یو دي، خو له بل پلوه بیا ډېر زیات توپیرونه لري؛ که چېرې د یو چا عادي کړنو او خبرو ته سپکاوی وشي یا مردودې وبلل شي.دومره به یې د خوابدتیا لامل جوړ نه شي لکه چې یو څوک یې رسمي افعالو او اقوالو ته سپکاوی، توهین او تحقیر وکړي، ځکه په دویم صورت کې به دومره په خښم او غضب شي چې د خپل دغه رنګ کړنو او خبرو د دفاع په پار سر ورکولو او وینو تویولو ته هم چمتو شي.د عقیدې تعریف : د عادي ارادې او قوتونو پرته یو بل داخلي کار، د دغه رنګ کړنو او خبرو لامل ګرځېدای شي او هغه باورنه دي؛ چې د انسان زړه ورسره غوټه خوړلې وي او د یادو افعالو او اقوالو لپاره د ریښې حیثیت لري، او انسان تل د دغه کړنو او خبرو ترسره کولو ته هڅوي،نو ځکه چې انسان د دغه رنګ افعالو او اقوالو سپکاوی په حقیقت کې د هغوی د اصل او ریښې سپکاوی بولي، چمتو دی چې په هر ممکن ډول؛ کله نا کله د مناظرې او کله بیا د مقاتلې له لارې له خپل دریځه ساتنه او دفاع وکړي.آن تر دې چې د دغه رنګ خبرو او کړنو د دفاع په پار چمتو دي د الله تعالی د نیکو او ښو بندګانو په مقابل کې توره را وباسي، له همدې امله کولای شو عقیده داسې تعریف کړو چې: ((عقیده د باورونو او فکرونو یوه ټولګه ده چې د انسان زړه ورسره تړلي وي او انسان ته د رسمي افعالو او اقوالو د ترسره کولو انګېزه ور وبخښي.))

# ولس د خوړو او درملو
# ملي اداري د پرېکړې هر کلی کوي

**پامير وطنوال**

هېوادوال د خوړو او درملو ملي ادارې پر هغه خبر خوښي څرګندوي، چې د نرخونو کنټرول لپاره داسې سافټ ویر جوړوي چې د درملو نرخونه به په کې ثبت وي او د بار کوډ سکن کولو سره به یې ټول جزئیات خلکو ته معلومېږي.د دوی په وینا حکومت باید دغه کړنو ته لومړیتوب ورکړي؛ ځکه دا یو معیاري سیستم دی، چې جوړ شي بیا به هر مشتري له هر خرڅوونکي سره د توکو د بیې خبرې نه کوي؛ بلکې د هر توکي نرخ به دوی ته معلومېږي. خالد تسکین او حمیدالله وایي، څومره ژر چې کېږي حکومت باید دغه سیستم فعاله کړي، ترڅو خلک د اړوند برخو د ظالمانو له ظلمه خلاص شي.خالد تسکین وایي: ((درمل پلورونکي ډېر ظلم کوي، په جلال اباد ښار کې یو درملتون کې مې یو ډول ګولۍ په کار وې، چې په یو ځای کې په ۱۵ افغانۍ وې بل ځای کې په ۳۰ افغانۍ راکړې. په کلدارو ځینې درملتونونو والا درمل راوړي که په ۱۰۰۰ کلدارو یو څه راوړي بیا د خرڅولو په وخت کې دغه زر کلدارې په دوو تقسیموي چې ۵۰۰ افغانۍ کېږي خرڅوي یې په داسې حال کې چې د ۱۰۰۰ کلدارو معادل تر ۲۹۵ پورته افغانۍ کېږي چې دا غټ ظلم دی او چې دغه سیستم فعاله شي ایله به د دې قصابانو د ظلم مخه ونیول شي.))حمیدالله زیاتوي: ((حکومت باید دغه کارونو ته لومړیتوب ورکړي، د ډاکترانو د فیس کنټرول لپاره دې کمېسیون هم وګوماري.شفري نسخې او بدلې دواګانې دې بندې کړي. هغه ډاکتران چې ستاژ یې نه دی کړی او په پټه یې معاینه خانې خلاصې کړي پر وړاندې دې عاجل اقدام وشي ترڅو د یوې سالمې ټولنې خاوندان شو.))د خلکو په خبره که چېرې په دې برخه کې څومره ژر عملي اقدام وشي، هغومره به ګټور تمام شي.عمرخان وایي: (( د اسلامي امارت حکومت دا اقدام غوره اقدام دی، ځکه له ولس ټولې پیسې په دوا ګانو ځي او که هرڅومره څېړنه وکړو د درملتون والا سره بیا هم پرې تاثیر نه کوي او نرخ یې له اسمان سره خبرې کوي نه له موږ سره.))د خوړو او درملو ملي ادارې همدا راز زیاته کړې وه، چې ټول درملتونونو مکلف دي چې د نوي لارښود سره سم یو ځل بیا خپل ځانونه ثبت کړي.باید وویل شي چې د خوړو او درملو ملي ادارې دغه خبر د خلکو له پراخ هرکلي سره مخ دي او د ژر پیلېدو غوښتنه یې کوي.

## غزل

**حضرت بیدل (رح)**

هر کجا شمع تماشای تو روشن می‌شود
از زمین تا آسمان آیینه خرمن می‌شود
ما ضعیفان لغزشی داریم اگررفتار نیست
سایه را از پا فتادن پای رفتن می‌شود
موج گوهر با همه شوخی ندارد اضطراب
سعی چون بی‌مقصد افتد آرمیدن می‌شود
بسکه غفلت درکمین انقلاب آگهی‌ست
تاکسی چشمی‌کند بیدار خفتن می‌شود
گر چنین افسردن دل عقده‌ها آرد به بار
دانهٔ ما ریشه گل ناکرده خرمن می‌شود
فتنه‌ای دارد جهان ما و من کز آفتش
زندگانی عاقبت مشتاق مردن می‌شود
طبع ظالم از ریاضت عیب‌پوش عالم است
آهن قاتل چو لاغرگشت سوزن می‌شود
از فروغ جوهر بی‌اعتباریها مپرس
شمع ما در خانهٔ خورشید روشن می‌شود
آفت برق فنا را چاره نتوان یافتن
این‌گلستان هرچه دارد وقف گلخن می‌شود
صنعت خونریزی تیغش تماشاکردنی‌ست
بسمل ما می‌فشاند بال وگلشن می‌شود
فصل مختار است اما عجز پر بی‌دست و پاست
من نخواهم او شدن هرچند او من می‌شود
پیری و اشک ندامت همچو صبح و شبنم است
بیدل آخر حاصل از هر شیر، روغن می‌شود

***

نشاط این بهارم بی‌گل رویت چه کار آید
تو گر آیی طرب آید بهشت آید بهار آید
ز استقبال نازت‌گر چمن را رخصتی باشد
به صد طاووس بندد نخل ویک آیینه‌وار آید
پر است این دشت از سامان نخجیر تمنایت
جنون‌تازی‌که صید لاغر ما هم به‌کار آید
به ساز ما نباید بیش از این افسردگی بستن
خرامی، ناز هرگام تو مضرابی به تار آید
شکفتن بسکه دارد آشیان در هر بن مویت
تبسم گر به لب دزدی چمنها در فشار آید
ندارد موج بی‌وصل‌گهر امید جمعیت
هماغوشت برآیم تا کنارم درکنار آید
به برق انتظارم می‌گدازد شوق دیداری
تحیر می‌دهم آب ای خدا دیدن به بار آید
فلک هرچند در خاک عدم ریزد غبارم را
سحر گل چیند از جیبم دمی کان شهسوار آید
چمن تمهید حیرت رفته بود از چشم مشتاقان
کنون گلچین چندین نرگسستان انتظار آید
شب آمد بر سر دوران سیه شد روز مهجوران
خداونداکی آن خورشید غربت اختیار آید
هزار آیینه از دست دو عالم می‌برد صیقل
که یارب آن پری‌رو بر من بیدل دچار آید

# روژه د برکتونو میاشت!

**پنځه لسمه برخه / مولوي نورالحق مظهري**

**د روژې میاشتې برکتونه:**
**دوه ویشتم برکت:**

بل برکت ددې مبارکې میاشتې دا دی چې الله پاک هره شپه ډېر داسې انسانان له اور څخه آزادوي چې هغوی د اور او جهنم مستحق دي لکه په حدیث کې چې راځي:
ولله عُتَقَاءُ من النَّارِ وذَلكَ كُلَّ لَيْلَةٍ».[سنن ابن ماجه١٦٤٢]
ژباړه: په دې میاشت کې الله لره د اور څخه آزاد کړل شوي بندګان شته او دا کار هره شپه کېږي.
یعنې د روژې مبارکې میاشتې په هره شپه کې الله پاک ډېر خلک له اور څخه آزادوي او دا د انسانانو لپاره لویه بریا ده چې د همدې میاشتې په برکت الله تعالی ددوی په نصیب کړې ده.
الله پاک دې موږ ټول په دې مبارکه میاشت کې د هغو خلکو څخه وګرځوي چې الله پاک یې د اور څخه آزادوي.
دوام لري...

## افغانستان د وسپنې پټلۍ له لارې ...

شـي په افغانستان کې هم د پانګونې ښه فرصتونه رامنځ ته شـوي، چې د قزاقستان سوداګر په کې پانګونه کولای شي.
متقي له دې خوښـي څرګنده کړه، چې پـه تېر یوه کال کې د افغانسـتان او قزاقسـتان ترمنځ د سوداګرۍ کچې زیاتوالـی موندلی او لـه ۹۰۰ میلیونه ډالرو رسـېدلې ده.
نوموړي دغه راز له سـریک ژومانګارین څخه وغوښتل، چې افغان سـوداګرو ته د ویزو د ورکړې بهیر کې لازمې اسانتیاوې راولي.
ورتـه مهال د قزاقسـتان د لومـړي وزیر مرسـتیال او د سـوداګرۍ او همکرایۍ وزیر وویل، چې افغانستان سره یې د هېواد اړیکې ډېرې پخوانۍ دي او په سختو وختونو کې یې هم حکومت په کابل کې خپل سفارت ونه تاړه.
سـریک ژومانګارین وویـل، چې ځان سـره یې کابل ته د قزاقسـتان د سـوداګرو یو ګـروپ راوړی تر څو د دواړو هېوادونـو ترمنځ سـوداګریزې اړیکې لا پراخې شي.
نومـوړي زیاته کړه، چې پخوا یې هم افغانسـتان سـره بشـري مرسـتې کړي او په راتلونکي کې بـه هم ادامه ورکړي.
هغه څرګنده کړه، چې افغانسـتان په سیمه کې د ټرانزیټ له اړخه ځانګړی موقعیت لري چې د منځنۍ او سویلي اسـیا ترمنځ د وصـل نقطه ده او هېواد یـې هڅه کوي، چې افغانسـتان د رېل پټلۍ له لارې له سیمې سره وصل شي او افغانسـتان ته نوې سـوداګریزې لارې خلاصې شي.
ژومانګاریـن وویـل، دمګـړۍ د قزاقسـتان شـرکتونه د رېـل پټلۍ پـه برخه کې له افغانسـتان سـره ګډ کار وي.
سریک ژومانګارین زیاته کړه، چې د قزاقستان د تجارت د وزیر په توګه یې ټول پام سـیمې ته دی او زیاته یې کړه، چې د افغانسـتان د ټرانزیټ پوټنسـیال لوړول د دواړو لوریو مشترکه اړتیا ده.
ده همداراز ژمنه وکړه، چې د افغانسـتان د سوداګرۍ او بهرنیو چارو وزارتونو په همکارۍ به افغان سوداګرو ته د ویزه ورکړې بهیر کې آسانتیاوې راولي.
په پای کې د بهرنیو چارو وزارت سرپرسـت یادونه وکړه، چـې د افغانسـتان د حکومت بهرنۍ سیاسـت متوازن او اقتصـاد محوره دی او د افغانسـتان له لارې سـیمه ییز ټرانزیټ او اتصال د افغانسـتان د بهرني سیاسـت په لومړیتوبونو کې ځای لري.

## وزیر امور خارجه از موضع گیری‌های مثبت ...

سرپرسـت وزارت امـور خارجه در حاشـیه‌ی نشسـت وزیران خارجه کشـورهای همسـایه افغانسـتان در شهرسـمرقند با بختیار سعیدوف، وزیر امور خارجه ازبکستان دیدار نمود.
در این دیدار هر دو طرف در مورد روابط دوجانبه و همکاری‌های اقتصادی بحث کردند.
مولوی امیر خان متقی ضمن تشکری از ازبکستان برای میزبانی این نشسـت، گفت که افغانستان و ازبکسـتان دین و زبان مشـترک دارند و شرکای اقتصادی خوبی اند.
او گفت: افغانسـتان برای تطبیـق راه آهن ترانس آماده اسـت، پروژه‌های ترانزیتی نقش مفیدی در یکپارچگی اقتصاد منطقه خواهند داشت.
سرپرسـت وزارت امـور خارجـه همچنین از موضـع گیری مثبـت و اقدامات سـازنده رئیس جمهور ازبکسـتان در رابطه به افغانسـتان تشکر کرد.
وزیر خارجه ازبکستان گفت که کشورش همیشه خواهـان صلح و ثبات در افغانسـتان اسـت و تاکید بر این اسـت که افغانسـتان باید در مسایل و نشسـت‌های مربوط به این کشور حضور داشته باشد و بدون حضور نمایندگان این کشور صحبت در مورد افغانستان نمی‌تواند مفید باشد.
وزیر خارجه ازبکسـتان تاکید کرد؛ ذخایر بانکی مسدود شدهٔ افغانسـتان باید آزاد شود زیرا برای بازسازی اقتصادی مردم این کشور مهم است.
او گفت: سـطح مبادلات تجاری دو کشـور در یک سـال گذشته به ۸۰۰ میلیون دالر رسیده است و امید اسـت این سـطح بیش از پیـش افزایش یابد.

## افغانستان او قزاقستان به د خپلې سوداګرۍ...

د پیاوړتیا، د دواړو هېوادونو تـر منځ درې مېلیارډ ډالرو ته د سـوداګرۍ کچې لوړولو، د ټرانسپورټي زېربناوو او اورګاډي پټلۍ د جوړولو په ګډون او د افغانستان په کاني زېرمو کې د پانګونې په اړه خبرې کړې دي.
د صنعت او سوداګرۍ وزارت زیاتوي، عزیزي د اسلامي امارت په استازیتوب د ترانزیټي اسانتیاوو رامنځته کولو، د ګـډې خونې او مسـتقیم هوایي دهلیـز د جوړولو او افغان سـوداګرو ته د ویزو ورکړې پـه اړه خبرې کړې او کابل ته یې د قزاقسـتان د پلاوي لـه راتګه هرکلی کړی دی.

## موسسات کمک‌های بشری را با مسائل ...

از کـودکان خیابانی و درمـان معتادین را یکی از اولویت‌های کاری عنوان کرد و گفت: ادارهٔ محلی هـرات در این راسـتا گام‌های مثبت برداشـته و رسـیدگی به مشکلات اجتماعی را جدی تر کرده است.

## بغلان کې زرګونه کورنۍ...

لازم اقدامات ترسره کړي.
مسـوولینو په خبره د دې ولایت د نهرین ولسوالۍ ځینو برخو او د مرکزي بغلان ولسـوالۍ په بایسقال سیمه کې هم خلک د وروسـتیو اورښتونو او سېلابونو په راوتو سره دې ته ورته ستونزې سره مخ شوي دي.

## وزارت صحت عامه در بخش ترمیم وسایل...

در این دیدار سرپرست وزارت تحصیلات عالی، خواهان همکاری و فعالیت های کاری مشترک با وزارت صحت عامه شـد و از سرپرست وزارت صحت عامه خواست که در قسمت ترمیم وسایل طبی شـفاخانه های کادری، تقویـت زیربناهای شـفاخانه های کادری در مرکز و ولایت‌ها، برنامه اکمـال تخصص و دریافت حمایـت کنندگان، با وزارت تحصیلات عالی همکاری کند.
سرپرسـت وزارت صحـت عامـه، فعالیت‌هـا و کارهـای این دو وزارت را وابسـته دانسـت و در رابطـه بـه حل مشـکلات شـفاخانه‌های کادری و فعالیت‌های مشـترک وعـده همکاری کرد.
دو طرف کمیته‌یی مشترک تخنیکی را تعیین کردند که روی حل مشـکلات و گسـترش فعالیت‌های مشترک کار کنند.

## تېره اوونۍ د وسپنې پټلۍ له لارې څه باندې ...

پټلۍ ملي اداره وايي دوی د هرې ورځې په تېرېدو د خپلو چارو د لا پراختیا او ښه والي لپاره هڅه کوي او موخه یې دا ده چې د هېواد سـوداګرو ته ټـول اړین امکانات برابر کړي او معیاري چوپړتیاوې وړاندې کړي.

## فراغت هزاران تن از کورس‌های سواد ...

به شـمول کارکنان خدماتی، خدمه و گارد ها در بغلان سواد بیاموزند.
ریاست معارف بغلان، میزان افراد بی سواد در این ولایت را چهل تا پنجاه درصد، عنوان کرده است.
فقر، جنگ وعدم دسترسـی به مراکز آموزشـی، علت های افزایش میزان بی سوادی در افغانستان را تشکیل می دهند.

# کابل کې د هېواد په کچه د پوښاک او اړینو توکوستره هټۍ بیا پرانیستل شوه

د کابل ښـار په ګلبهار سـوداګریز مرکز کې د (all in one) په نوم د هېواد په کچه د پوښاک او نورو اړوندو توکو ستره هټۍ نن د یوشمېر دولتي مسوولینو، سـوداګرو او هېوادوالو په شـتون کې د یو لړ ځانګړو مراسمو په ترڅ کې بیا خلي پرانیسـتل شـوه.د یاد مرکز یوه مسـوول رسـنیو ته وویل چې د نړۍ د مشـهورو کمپنیو براندونه یې را وارد کړي او هېوادوال کولای شي، په مناسب قیمت په انلاین او حضوري بڼه له یاد مرکز څخه خپل د اړتیا وړ توکي وپېري.
په ورته وخت کې د کابل ښار د ۴مې ناحیې رییس حافظ مولوي عبدالرحمن رباني د دغه مرکز جوړول نېک اقدام وباله او له ټولو ملي سـوداګرو څخه یې غوښتنه وکړه، چې په کور دننه پانګونه وکړي.
یوشمېر کابل ښـاریانو هم د دغه مرکز په پرانیستل کېدو خوښي څرګنده کړه او له نورو هېوادوالو څخه یې هم غوښـتنه وکړه، چې له دغه مرکز څخه لیدنه وکړي .
د یادونې وړ ده، چې د پوښاک او نورو اړینو توکو دغه مرکز تر دې وړاندې هم فعالیت کاوه، خو له څه مودې راهیسې یې فعالیتونه درولي وو.

# اسلام قلعه کې د ۴۰۰ زره امریکایي ډالرو د قاچاق مخه ونیول شوه

د هرات د ګمرک ریاسـت مسوولین وايي، چې د دغه ګمرک امنیتي منسوبینو د ۴۰۰ زره امریکايي ډالرو د قاچاق مخه نیولې ده.
د یاد ګمرک مسـوولینو باختر آژانس ته وویل، چې د اسلام قلعه ګمرک بیداره امنیتي ګمرکي منسـوبینو یو کس څخه د تالاشۍ او پلټنې پر مهال ۴۰۰ زره امریکایي ډالر کشف او ضبط کړي دي.
مسـوولینو په وینا، نیول شوي کس غوښـتل، چې دغه پیسې ګاونډي هېواد ایران ته قاچاق کړي، چې د یاد ګمرک په عمري دروازه کې کشـف او د انتقال مخه یې نیول شوې ده.
دا په داسـې حال کې ده، چې له دې وړاندې ریاست الوزرا په یوه خپره کړې اعلامیه کې ویلي وو، چې هېڅوک نه شي کولای له هېواده څخه بهر د هوایي ډګرونـو له لارې له ۵ زرو زیات او د ځمکې (سـرحدونواو پولو) له لارې تر ۵۰۰ زیات ډالر په نقدي ډول له ځانه سره وباسي.

# نورستان کې یو پُل بیا ورغول شو

د نورسـتان ټولګټو چارو ریاست مسـوولین وايي، چې د دغه ولایت په واما ولسـوالۍ کې د کوردر خوړ پُل بیا رغول شوی دی.
د دغه ولایـت د ټولګټو چارو رئیـس مولوي احمد نبـي د باختر آژانس سـیمه ییز خبریال تـه وویل، چې د دغـه ولایت په واما ولسـوالۍ کې د کـوردر خوړ پُـل د ۸ مترو په اوږدوالـي او ۴ متره پلنوالي سـره د یاد ولایـت د مقـام او امنیـه قومندانـۍ په مالي لګښـت بیا رغول شـوی دی.
د سـېمي خلکو د ټولګټو چارو ریاست له دغه اقدام خوښې وښوده.

## د سمرقند غونډه او د ټام ویسټ ...

ترلاسه کړل؟ موږ او د سیمې هېوادونو ته فقط همدا ټکی مهم دی. البته امریکایان به د خپلې روحي ناکراري لپاره. لکه اوبو وړي چې ځګ ته لاس اچوي همدومره هڅه هم لړترلږه یو تسـکین بولي، خو لکه موږ زیاتـره افغانان چې باوري یو، د امریکایانو زور ختلی، حیثیت یې بایللی نړیوال غرور یې مات شوی او ختیځ کې یو نوی بلاک را ټوکېدلی بولو، همدغسـې زموږ د چم ګاونډ هېوادونه هم ډېر ښه پوهېږي چې له نېکه مرغه دلته د اقتصادي ښـېرازۍ غوره فرصت منځ ته راغلی، افغانستان کې بشپړ امنیت او ټیکاو ترلاسه شـوی او د ټام اندېښنې د دې سیمې خلکو ته هماغه د دروغجن شپانه چې لېوه راغی، کیسې ته ورته چې په اصل کې هېڅ واقعیت نه لري. بناءً دانو اوس له همدغې جغرافیې واکمنو او مالکانو پورې اړه لري چې موقع وپېژني، افغانستان کې له راغلي فرصته ښه او مناسبه ګټه واخلي ګنـه واخلي او له وخت ضایع کېدو مخکې ژر تـر ژره پر مهمو اقتصادي پروژو لاس پورې کړي. بل لورته په ځانګړې توګه د ټول افغان ملت، حکومت او رعیت، نېکمرغي، سـوکالي، پرمختګ او بریا په دې کې ده چې د هغو شـیطانانو ټولې وسوسې له ذهنه وباسي، څوک چې غیر واقعي پرېشاني او تشویشونه وراچوي، څه وختونه او فرصتونه یې ضایع کوي او ځان بسـیاینې پرمخ ورته خنډ ګرځي. کلک باوري اوسئ چې له تاریخ تېرو تنبتېدلو افغانانو سره د ټام لیده کاته به هېڅ ډول محسوسـه پایله ونه لري، نو راځئ ملا وتړئ، کار وکړئ او د خلکو پر خبرو غوږونه کاڼه واچوئ.

## سویس کې د افغانستان شتمنۍ ۱۰۰ میلیونه ...

کېدونکې سـتونزې هواروي. بل‌خوا اسـلامي امارت یو ځـل بیا له امریکا غواړي، چې د افغانسـتان شـتمنۍ په بشـپړ ډول ازادې کړي. د افغانستان اماني صندوق د ۲۰۲۲ کال په سـپتمبر میاشـت کې په سـویس کې جوړ شو.
په بهرنیو بانکونو کې د افغانستان څه باندې نهه مېلیارډ ډالر کنګل شوي چې له دې منځه اووه مېلیارده یې د امریکا په بانکونو کې ساتل کېږي او واشنګټن د دغو پیسو د درې اعشـاریه پنځه میلیارډ ډالرو د ساتنې لپاره په سویس کې صندوق جوړ کړی دی.

## د هغو ۶۰۰ پروژو برخلیک دې معلوم شي چې ...

هېواد کې ۹۳ پروژې ترلاس لانـدې نیولې وې چې له دې جملې څخه ۸۳ پروژې بشپړې کړي او مالکینو ته یې سپارلې دي.
هغه زیاته کړه: ملي پراختیا شرکت په پام کې لري چې له اړوندو ارګانونو سره په ګډه په روان کال کې د هغو ۷۲ پروژو چارې بېرته پیل کړي، چې په هېواد کې د سیاسي تحولاتو په راتلو سره یې چارې درېدلې وې.
دغه راز د ملي پراختیا شـرکت د بنایي چارو رئیس عبدالله احمدزي وویل: د ملي پراختیا شـرکت له جوړښت څخه تر دې دمه، په هېواد کې ۴۵۷ پروژې بشپړې شـوې او ګټې اخیستنې ته سپارل شـوې دي او ترڅنګ یې شاوخوا ۶۰۰ پروژې د پرمختیایي بودجې د کمښت له امله کارونه یې په ټپه ولاړ دي.
احمدزي زیاته کړه چې د ملي پراختیا شـرکت په پلان کې لري چې په روان مالي کال کې ۸۲ پروژې پلې کړي چې نیمګړې او سـترې ملي پروژې پکې شاملې دي چې کارونه به یې بشپړ او پایلې به یې له هېوادوالو سره شریکې شي.
احمدزي له هغـو ادارو او سـکتورونو څخه چې د ملي پراختیا شـرکت د شـاوخوا ۱۸،۴ میلیارده افغانیو په ارزښت پوروړي دي؛ وغوښتل د اسلامي امارت له مشـرانو او د مالیې وزارت له رهبرۍ سره ناسته وکړي او دغه پور د ملي پراختیا شرکت د ۱۴۰۲ مالي کال بودجوي ځانګې ته انتقال شي.
هغه دغه راز پر هغو ادارو او سـکتورونو چې له یاد شرکت سره تړونونه لري؛ غـږ وکړ چې د ۶۰۰ پروژو چې کارونه یې پـه ټپه ولاړ دي؛ برخلیک معلوم کـړي. ځکه د هغه په وینا، کـه چېرې د دغو پروژو برخلیک معلوم نشـي؛ نو کېدای شـي د ملي پراختیا شـرکت عایداتي ځانګه چـې په ملي عوایدو جوړېږي؛ زیانمنه شي.
یادو مسئولینو، د قوش تېپې د سـتر او ملي کانال د ځینو چارو، د کمال خان بند د کانالونو چارو، د نمک آب کانال د چارو او د تورې بند د چارو بشپړول او د پلټوني او شـفلوغ بندونو او د کمال خان بند د دویمې کاسې د تخنیکي سـروې او امکان سـنجۍ د چارو پیل، د ملي پراختیا شرکت د سږکال مهم پلانونه یاد کړل.
د یادونې وړ ده چې ملي پراختیا شـرکت یو دولتي شرکت دی چې په ۱۳۹۸ لمریـز کال کې د پراختیایي پروژو او پروګرامونو د لا ښـې همغږۍ او تطبیق ترڅنګ، د ظرفیت لوړونې او د هېواد د اقتصادي ودې په موخه تاسـیس شو چـې د بندونو، کانالونو، ودانیزو، تولید، کرنـې او کانونو په برخو کې کار او فعالیت کوي.

## څخه افغانستان ته ...

چابهـار بندر په اړه د هند او مرکزي اسـیا د هېوادونو د کاري ډلې یا دغه دوه ورځنۍ ناسته چې د هندوستان په ممبۍ ښار کې جوړه شوې وه، د هند بهرنیو چارو وزارت چارواکو او د قرغیزستان، تاجکستان، ترکمنستان او د ازبکستان د بهرنیو چارو وزارتونو مرسـتیالانو پکې ګډون کړی و. د چابهار بندر په اړه د دغې ناسـتې په ګډه اعلامیه کې د ملګرو ملتونو د خوړو پروګرام لپاره د هند استازي ویلي، له ۲۰۱۸ کال څخه تر اوسه د چابهار بندر له لارې افغانستان ته دوه اعشـاریه پنځه میلیونه ټنه غنم او دوه زره ټنه نوره غله دانه استول شوې ده.

## لغمان کې لسګونه روغتیایي مرکزونه ...

روغتون کې د روغتیا نړیوال سـازمان په مالي ملاتـړ د ۷۸ زره امریکایي ډالرو په لګښت یو انتاني واټ جوړول او د ۷۲ زره امریکایي ډالرو په لګښت د روغتیایي مرکز احاطه او د قابلو د اوسېدو لپاره درې اساسي کورونه جوړ شوي دي.
د صافي په خبره، د دې ترڅنګ د مختلفو موسسو لخوا له ولایتي روغتون او روغتیایي مرکزونو سره د درملو او نورو ضروري وسایلو مرسته شوې، چې روغتیایي برخه کې یې ښه والی راوستی دی.

## په کابل کې د ۵ فرعي سړکونو د جوړولو ...

ټولیـزه توګه د ۱۰۰۰ مترو پـه اوږدوالي ۵ فرعي سـړکونه جوړېږي، چې ورسره جوخت به د سیمې اوسېدونکو ته ګڼې ښاري او سیمه ییزې آسانتیاوې رامنځته شي.
د یادولو وړ ده چې، د دې پروژې په پلې کېدو سـره سلګونو ښاریانو ته د کار زمینه هم برابره شي.

# Shariat

Twice printed in week

**Shariat**

**Published by**

Islamic Emirate of Afghanistan

M. Ebrahim Nabil ، Director of Gov.dailies

0782080666

Chief Editor : Farooq Ghaljai/ 0778635852

Email: info@shariatdaily.com

WWW.shariatdaily.com ویب سایت:

**شریعت**

د لیکوال هیئت تر نظر لاندې

د دولتي ورځپاڼو عمومي رئیس:

م محمد ابراهیم نبیل ۰۷۸۲۰۸۰۶۶۶

مسؤل مدیر: فاروق غلجی/ ۰۷۷۸۶۳۵۸۵۲

د شریعت برېښنا لیک: info@shariatdaily.com

پته: د بهرنیو چارو وزارت ته مخامخ - د اطلاعاتو او کلتور وزارت نوې ودانۍ

شماره توزیع و شکایات: ۰۷۷۶۷۸۸۴۴۷ / ۰۷۹۳۵۳۱۵۱۳

Sunday 16 April 2023 / Established: 1995 / 2nd Season / Vol: 159


## وزیر امور خارجه از موضع گیری‌های مثبت ازبکستان در رابطه به افغانستان تشکری نمود



شریعت: سرپرست وزارت امور خارجه در دیدار با وزیر خارجه ازبکستان از آمادگی افغانستان برای تطبیق پروژه افغانستان ‹ ترانس افغانستان› سخن گفت و یاد آور شد که پروژه‌های ترانزیتی نقش مفیدی در یکپارچگی اقتصاد منطقه خواهد داشت.

دفتر مطبوعاتی وزارت امور خارجه روز گذشته با نشر خبرنامه‌یی گفت: مولوی امیرخان متقی ... ص۵

## افغانستان او قزاقستان به د خپلې سوداګرۍ کچه ۳ میلیارده ډالرو ته لوړه کړي

شریعت: د صنعت او سوداګرۍ وزارت سرپرست نورالدین عزیزي د قزاقستان د لومړي وزیر مرستیال او سوداګرۍ وزیر سریک ژومانګارین او مل پلاوي سره په کابل کې لیدلي دي.

یاد وزارت پر ټویټر لیکلي، دواړو لورو په دې لیدنه کې د اقتصادي او ترانزیتي اړیکو ... ۵مخ



### کابل ښاریان:

## د اختر په رارسېدو سره د وچې مېوې بیې لوړې شوې دي



د کوچني اختر د را رسېدو له امله یو شمېر هېوادوال د وچې میوې له لوړې بیې شکایت لري. دوی وایي د بد اقتصادي وضعیت له امله ډېری هېوادوال د دغو میوو د پېرلو وس نه لري. په کابل کې د وچې میوې یو شمېر پلورونکي وایي، چې د تېرو کلونو په پرتله د وچې میوې پلور د پام وړ کم شوی دی. تر دې وړاندې د صنعت او سوداګرۍ ټولنې د کوچني اختر په مناسبت د کابل په تیمورشاهي سیمه کې لس ورځنی نندارتون جوړ کړی چې کورني محصولات پکې نندارې ته ایښودل شوي دي. خلک داسې مهال اختر لپاره د وچو مېوو او د نورو لومړنیو خوراکي توکو د بیو له لوړوالي شکایت کوي، چې زرګونه کسان د وروستي سیاسي بدلون له امله وزګار شوي او ځینې آن له داسې وضعیت سره مخ شوي چې د لومړنیو توکو د پېرلو توان هم نه لري.

### والی هرات:

## موسسات کمک‌های بشری را با مسائل سیاسی عجین نسازند

شریعت: شیخ نور احمد اسلام جار، والی هرات با هیئت معاونیت سازمان ملل دیدار نموده.

این هیئت، هدف سفر شان را به آن ولایت، تبادل نظر پیرامون کمک‌های بشردوستانه و دیدار با مقامات محلی عنوان کردند.

هیئت مذکور از همکاری و هماهنگی ادارۀ محلی با موسسات ابراز قدردانی نموده و خواستار همکاری‌های بیشتر اداره محلی هرات با این سازمان شدند.

شیخ نور احمد اسلام جار والی هرات گفت که اداره محلی هرات با در نظر داشت قوانین نافذه کشور با همه ادارات به خصوص موسسات ملی و بین المللی همکار بوده و از همه‌ی موسسات خواست که کمک‌های بشر دوستانه شان را به مسائل سیاسی پیوند ندهند تا خدمات به گونه موثر و یکسان برای مردم ارائه گردد.

والی هرات حمایت ... ص۵

## د کندهار پوهنتون له طب پوهنځي څخه لسګونه تنه فارغ شول

د کندهار پوهنتون د طب له پوهنځي څخه ۱۰۶ تنه تر اوه کلنو زده کړو وروسته فارغ او د یوې غونډې په ترڅ کې یې د فراغت سندونه ترلاسه کړل.

په همدې موخه جوړه شوې غونډه کې د کندهار پوهنتون رئیس مولوي اکرم شاه عاصم، د طب پوهنځي استادانو، دیني عالمانو او د فارغ شویو ډاکټرانو د کورنیو غړو برخه اخیستې وه.

په دې غونډه کې د کندهار پوهنتون رییس مولوي اکرم شاه عاصم وویل، چې ډاکټران د ټولنې لویه شتمني ده او له فارغ شویو ډاکټرانو یې هیله څرګنده کړه، چې د ولس لپاره په اخلاص خدمت وکړي.

د غونډې پای کې فارغ شویو کسانو د استادانو او مسوولینو له لوري د فراغت سندونه ورکړل شول.

### سرپرست وزارت تحصیلات عالی:

## وزارت صحت عامه در بخش ترمیم وسایل طبی شفاخانه‌های کادری همکاری نماید



شریعت: شیخ الحدیث مولوی ندا محمد ندیم سرپرست وزارت تحصیلات عالی، و داکتر قلندر عباد سرپرست وزارت صحت عامه در یک دیدار کاری بر ایجاد هماهنگی بیشتر میان این دو نهاد تاکید نمودند. ص۵

## بغلان کې زرګونه کورنۍ د څښاک پاکې اوبه نه لري

د بغلان و لایت په برکې ولسوالۍ د لاندې او بره فلول درې څه باندې ۶ زره کورنۍ د وروستیو اوربښتونو او سېلابونو له امله د اوبو له کمښت سره مخ شوې دي.

د دغه ولایت د کلیو، بیارغونې او پراختیا رئیس مولوي عبدالواحد عبیده وایي، چې د فلول درې د اوسېدونکو د دې ستونزې د حل په موخه یې هغه ځایونه چې له ریګونو ډک شوي سروې کړې دي.

عبیده زیاته کړه، چې دغه ریاست د دې ستونزې د حل لپاره امکانات نه لري او له نورو مرستندویه بنسټونو سره یې یاده موضوع شریکه کړې څو د حل لپاره یې ... ۵مخ

## بغلان کې د ترافیکي پېښو له امله ۱۴ تنو ته مرګ ژوبله اوښتې

د بغلان امنیتي چارواکي وایي چې په مرکزي بغلان او خنجان ولسوالیو کې په دوو ترافیکي پېښو کې یوه ښځه او یو ماشوم مړه شوي او ۱۲ تنه نور ټپیان شوي دي. د بغلان امنیې قوماندانۍ ویاند ویلي چې تېره ورځ د مرکزي بغلان ولسوالۍ د بورې فابریکې په سیمه کې دوو موټرو ټکر کړی دی. نوموړي ویلي، په یاده پېښه کې یوه ښځه مړه شوې او ۱۲ نور کسان ټپیان شوي دي. خو د پېښې یو عیني شاهد سهارګل همت وایي چې په دې پېښه کې څلور کسان مړه او یو شمېر نور ټپیان شوي دي.

د بغلان د امنیې قوماندانۍ ویاند دا هم وویل چې تېر مازدیګر د خنجان ولسوالۍ په شمالي سالنګ کې یوه نجلۍ موټر وهلې او مړه شوې ده.

## تېره اوونۍ د وسپنې پټلۍ له لارې څه باندې ۱۰۷ زره ټنه انتقالات شوي



په تېره یوه اونۍ کې د اوسپنې پټلۍ له لارې څه باندې ۱۰۷زره ټنه انتقالات ترسره شوي دي. د اوسپنې پټلۍ اداره وایي، چې تېره اونۍ د حیرتان، اقینې او تورغونډۍ اوسپنې پټلیو له لارې ۱۰۷ زره ۶۸۱ متریک ټنه توکي لېږدول شوي دي. په یاد توکو کې ۴۱۰۶ ټنه توکي صادر شوي، چې لویه برخه یې وچه میوه ده. د افغانستان د اوسپنې ... ۵مخ

## هرات ښاروالي له ۷۰۰ میلیونو زیاتې افغانۍ پراختیایي پروژو ته ورکوي

د هرات والي شیخ الحدیث مولانا نور احمد اسلام جار د دغه ولایت ښاروالۍ د عوایدو ریاست کارکونکو په ستاینغونډه کې د ښاروالۍ کړنو او د پراختیایي پروژو پلي کولو څخه ستاینه وکړه.

په دې غونډه کې شیخ اسلام جار وویل، چې له ۴۰ کلونو وروسته د هېواد ځمکنۍ بشپړتیا ساتل شوې امنیت ټینګ شوی او د انسان تښتونو پېښو په صفر کېدو سره اوس د هېواد بیارغولو لپاره زمینه برابره شوې ده.

ورته مهال د هرات ښاروالۍ د عوایدو رییس مولوي جمیل جواد په تېر ۱۴۰۱ لمریز کال کې د ۸۷۴ میلیون ۹۲۲ زره او ۲۴۵ افغانیو عوایدو راټولو خبر ورکړ.

نوموړي دغه راز زیاته کړه، چې په روان کال کې یې له ۷۰۰ میلیونه افغانیو څخه زیاتې پیسې پراختیایي پروژو ته ځانګړې کړې دي

## د بدخشان په کوکچې سېند کې د یوې کورنۍ څلور غړي غرق شوي

د بدخشان د طبیعي پېښو پر وړاندې د مبارزې ریاست مسوولین وایي، چې پرون وروسته له غرمې په کوچې سیند کې د یوې کورنۍ څلور غړي اوبو غرق کړي دي. د دغه ولایت د طبیعي پېښو پر وړاندې د مبارزې ریاست اړوند د طبیعي پېښو آمر محمد کامکار باختر آژانس ته وویل، چې دغه کسان د مرکز فیض آباد ښار په کري سیمه کې د کور کالیو او فرشونو د مینځلو پرمهال غرق شوي، چې غوښتل یې اوبو ته لوېدلی کوچنی ماشوم وژغوري. کامکار زیاته کړه، چې د سیمې خلکو په مرسته دوې پېغلې نجونې ژوندۍ ژغورل شوي، ماشوم او مور یې خپل ژوند له لاسه ورکړی، چې لا یې هم جسدونه له پرلپسې هڅو نه دي موندل شوي.

نوموړی د یادې پېښې لامل د کورنیو بې غوري بولي او له خلکو غواړي، چې په دې برخه کې له ډېر احتیاط څخه کار واخلي.

## ننګرهار کې پر ۳ زرو زده‌کوونکو درسي کېټونه ووېشل شول



د ننګرهار په دو ولسوالیو کې د چټکو زده کړو له ۳۱۳۸ زده کوونکو سره د قرطاسیې او روغتیایي کیټونو مرسته وشوه. د ننګرهار د پوهنې ریاست مسوولین وایي، چې دغه مرسته د ودان موسسې له لوري د دې ولایت په شینوارو او مومند درې ولسوالیو کې د چټکو زده کړو ۸۷ ټولګیو ۳۱۳۸ زده کوونکو سره وشوه. د معلوماتو له مخې له یادو مرستو ۱۹۱۳ نجونې او ۱۲۲۵ هلکان برخمن شول.

## فراغت هزاران تن از کورس‌های سواد آموزی در بغلان

بیش از دو هزار و پنجصد تن مرد وزن در بغلان، در چارچوب کورس های سواد آموزی، با سواد شدند.

این کورس نه ماهه از سوی بخش سواد آموزی ریاست معارف بغلان، برگزارشده بود.

عبدالمبین احمدی مسوول تطبیق برنامه‌های سواد آموزی ریاست معارف بغلان می گوید:آمریت سواد آموزی در سال گذشته، یکصدو هشتاد وپنج کورس سواد آموزی را درسطح بغلان ایجاد و دوهزاروچهارصدو هفتاد وچهار تن را به شمول نه صدو سیزده زن ودختر، تحت پوشش قرار دادند.

احمدی می گوید که قرار است امسال هم هزاران تن ... ص۵